- ايمان ايمان نه رانه ځينه
- تاسي به څوک داسي پرېږدينه؛ وى
- وينې مو ښې وينې مو ځينه
- د الله دښن څوک نه وژينه

لرې وېشتونکی مو اوس ټنډې ته کومه

## ٨. ٢ د مصرى ايزې انځورونه:

دا لاندې د مصرى ايزې انځورونه مې د جونورې په ٣ درېيم ٢٠١١ زېږدي کال کښته کړي وو.



٩:- يو آر ـ سيمبټار- د- ډبليو اي بي. ,, دا مصرى پينځه ژى لرې. ،، (ايلګوډ، ١٩٧٩ زېږدى، ٢٠٣ چوپړى) ( # ٩ انځور)





١٠:- د محمد رسول الله مصرى ( # ١٠ انځور)

١١:- د ليکانې (کلم) په بنه پينځه بنه ,, مصرى،، (ژى (ايجيپټ وييپنس)، ٢٠٠٩ زېږدى، ٢ چوپړى) ( # ١١ انځور)

## ۸. ۳ د مصرۍ ایزې تعریف ( څرګندونه، ښکارونه، مصرۍ ایزې د یوه توري یا سکالو تشریح کول)

د وۍ یا ویکیي له پامه مصرۍ ابزه هغي درې سرې پېیلي ته وایي چي د څو سره مصرۍ سره ډېرې ورته ځانګړې ځانګېړني، څرنګوالی او څرګندوالی لري. په اصطلاح کې هغه وګړنی، پیاوړې، غښتلې، هېښونکې، سندریزه، خوږه، ګڼلي، منلي، له اند، پند، احساس او تخیل ډکه پېیله ده چي زموږ لرغونو پښتنو نیکونو او نیاګانو د پښتو ژبې د ابېځو ,, ښ، ډ، ړ، ڼ، ی او ... .،، څخه وړاندي زده، پېژندلي او د پښتو ژبې له زوکړې له پېدایښت سره جوښت یې جوت کړي دي. پښت یې هم کولی شي چي لرلید (راتلونکې بڼې) یې پرته له ادبي بیرغي کولو (فلجیارېزم، د بل چا افکار او لیکني په خپل نوم تیرول، Plagiarism) کښلی شي.

د کوشنی مصرۍ ایزې د مسرو شمېر یې ۳، د څپو شمېر یې ۳۱ له دفتنګونو او پارنوییکیو پرته دی. ( دفتنګونه , الیده ، اضافه، سرباري او اوسترباری، غونډلي یا کلمي دي چي سندره , اهنګ؛ ترنګتوک؛، یې لا خوږ وي. په بله مانا دیفتنګونه , غبرګغږونه یا واکه مرکب ، هغه اوازو ته وایې چي د خپلواک او نیمواک په ملګرتیا منځ ته راځي؛ لکه یوستووی اواز یوه وار پتلیز له خولي راوځي؛ د یوه غبرګغږ لومړی ټوک یوه خپلواک او دوییم ټوک یې یوه نیم واک اواز وي، کله زورکی واله یې یا نرمه ,,ی،، او زرکی واله یې یا درنه یې ,,ی ،، او داسي نور. دیفتنګونه ,غبرګغږونه، ناتروییکي، ترویيکي، ستربل، اوستربل، پارنوییکي، بلنوییکي، اندېښني، هیبجاني چغې، لکه: الله وی!، وی، او، نو وی!!، جان، ځانه!، خانه!، اشنا، شیرینه، ګرانه، یا الله، یه، وا!، وای!، وه!، کنه!، وه الله، ای!، وه الله وی!!، وا وی، وای وای،. نو، الله، او، ګرانه!، یه کربانه!، یه پښتیانا!، یه ځلمیه!، هه بچیه!، فردوس خانه!، لغمانیه!، یه که ځاره!، ای الکه! وروره!، بخته میره! دغه راز هو، نه، ښه، څنګه، ولې...)، نوموړي ټول د مصرۍ ایزې توکي دي، چي کله د هرې مسرې پیل کې، کله منځ، ډېری وخت په پای کې ویل کېږي او د څپو په شمېر کې دېر والی راولي.

د پښتلې کلمي یا غونډلې لرې لري. خو ډېری وخت د لومړی، دوییمي درېیمي، څلورمي، پینځمي او شپږمي مسرې په پای کې ترنګتوکه غونډله لري او د دوی ټول ترنګتوک بشپړ وي. هره مصرۍ ابزه باید د ه ( زموږ خپله ,, ه، هـ یا هې ،، چي ورته وړه ه، روغه ه، کوشنی ه، لنډه ه، دوې سترګې ه ,هـ، دوې سترګي والا ه، یا عینکو والا، عصري او ځانښودي، ,ه، وایو) چي د پښتو ژبې ،نهویشتم, ګڼه ابېځې ده. په واول یا غږن اواز پای ته رسېدلي وي.

مصرۍ ایزه د پښتو ژبې د فونولوژیکي (غږیز) جوړښت تابع ده او د هغې پر بنسټ جوړېږي. د لومړۍ مصرۍ ایزې پېنځمه او د دوېیمې مصرۍ ایزې شپږمه مسره يې ۱۳ څپې وي له دفتنګونو پرته.

د هرې مصرۍ ایزې، لمړۍ او دوېیمي ( د پورتنۍ پېنځه سره مسرې څلورمه، او د شپږ سره مسرې پېنځمه) مسرې څلورمه او اتمه څپه؛ د پېنځمې او شپږمې مسرې ( پاینۍ مسرې،) څلورمه، اتمه او دولسمه څپه باندې زورنه وي او ډېرې وخت په کې کومه څپه باندې زورنه نه احساسېږي.

له سیمه ییزو غږو سره هم څپه په خپل څه رنګوالي نه پاتې کېږي او په ځنې سیمه کې بېلوالی لري. په بله وینا مصرۍ ایزې میچه د څپېزه او خجیزه ټولوالي سره، سره پر یوه نازورنه څپه یا یوې خوږ غږې یا ترنمي څپه پای ته رسي. د هې ابېځی دی چې غږ يې نس څخه هوا په حنجرې کشوي، چې خولې مخکې مو ورغوی ونیسئ. ه یا هه و وایئ؛ نو هوا ویچې، د نس ډکیدل او تشیدلو باندې پوهېږئ چې همدې ته ترنګتوک وایي. مانا دا چې د پیلنۍ مصرۍ اېزو نهمې، اتلسمې، اووه ویشتمې، شپږدېشتمې او نهه څلوېښتمې (د پېنځه سره مصرۍ ایزې يې اېزو نهمې، اتلسمې، اووه ویشتمې، شپږدېشتمې، پېنځه څلوېښتمې او اته پېنځوستمې) څپې خوږغږي د مصرۍ ایزې میچه د څپېزه او خجیزه ټولوالي ترڅنګه د مصرۍ یوه بل رغنده ټوک ګڼل کېږي. نه شتون يې رغښت له پوښتنې سره مخامخوي. د پېیلې په توګه يې یوه څپه کمېږي او له موسقي پلوه خوږ غږ له لاسه ورکوي. دغه پایني ټوکونه په یوه پېر کې له دغو دربواړو څپو څخه هره یوه د ور مخکې وروستۍ نهمې، اتلسمې، اووه ویشتمې، شپږدېشتمې او نهه څلوېښتمې (د شپږ سره مصرۍ ایزې نهمې، اتلسمې، اووه ویشتمې، شپږدېشتمې، پېنځه څلوېښتمې او اته پېنځوستمې ) زورنې څپې له یوه څه اغېز سره مصرۍ ایزې ته یوه خوږغږي وربښي. پر همدې لاسوند له هرو درو څخه وریته هره یوه څپه هم ایوفوني (euphony) بلل کېږي چې پښتو انډول يې ترنګتوک یا ترنمي توک کې دی شي. غوره سته د ترنګتوک په پاینۍ مسره کې دی چې نومړې مسره د ایزې رغښت پنځ کوي، د ایزې غوره توک او منځې راځي.

په ټوله کې غوره ایزې هغه دي چې د لنډۍ، ټپې، ټېکۍ او مصرۍ، له هرې یوې مسرې سره ورته لړونه، پښیلې، ځانګړې ځانګړنې، بېلونکي نخښې، سرباري اهنګینه پاینۍ څپې و لري، د دیفتنګونه او پارنویکي سره. خو له نیمکۍ، انګۍ، لنډکۍ، بګتۍ، کېسۍ (شبې)، پاړکۍ، کاکړۍ، نارې، بدلې، لوبې، سندرې، چاربیتۍ، سپینۍ (ازادې پېیلې)، کبسه ګۍ، د اتڼ غبرګۍ، درې څپېزۍ، څلور څپېزۍ، پېنځه څپېزۍ، شپږ څپېزۍ، اووه څپېزۍ، اته څپېزۍ، نهه څپېزۍ،

لس ځپېزی، هايکويی، پټی ( تي خورو اړوندې پيپلي)، موندی ( سر پرپکړی)، انځورګی، کېنتوزی ( سانتی)، نامانپزی، زخی، بې تولی، تولونجی، نا پښپلیزی، ناپيپلی او سلسلی، دې ټولو پيپلو سره د سکالو ( موضوع، مسلې، دننه نی برخې، Dialogue ) له ,, ستې بېلوالی،، (نامیت، ۱۹۹۲ زېږدی، ۱ چوپړی) و لړي. د دې له پاره چې دا ټول په ډېرى بنه له درې مسرو ځخه رغښت موندلی دی او زوکړه شوي، ان له ساده درې غونډله ايزه وينا او يادونې سره. نوموړو ټولو ته پام وي، پرې برلاسې وي، رټ بېلوالی يا ګړندی فرق يې و کولی شي، ورته ګڼلي وي او د ټولو زهنې پرتلنه په رپ سوب کې ټول پښتون پښت کولی و شي.

مصری ايزې د ځپې شمېر بېلګه داسې ده چې درې سرې مصری ايزې ۳۱ ځپېزې وي، ځلور سره مصری ايزې ۴۰ ځپېزې وي، پينځه سرې مصری ايزې ۴۹ ځپېزې وي، شپږ سره مصری ايزې ۵۸ ځپېزې وي، اووه سرې مصری ايزې ۶۷ ځپېزې، اته سرې مصری ايزې ۷۶ ځپېزې وي، نهه سرې مصری ايزې يې ۸۵ ځپېزې وي او لس سره مصری ايزې ۹۴ ځپېزې وي. چې تر ټولو غوره يې ځلور سره مصری ايزې ۴۰ ځپېزې رانښلولې لړی لړي او ځلور داني و ويل شي. خوندور رنګ، د نوي وخت او هندارو په ښکاروندو په سته ولاړ راځي؛ ډېرې ښې يې اته سرې مصری ايزې ۷۶ ځپېزې وي چې دوې داني و ويل شي؛ ښې په بيا درې سرې مصری ايزې دي چې اته داني يا دولس و ويل شي؛ لړې ښې بيا پينځه سره مصری ايزې يا پينځيزونې مصری ايزې دي چې پينځه داني و ويل شي ښې راځي، دا بيا له ځلورو دانو شپږ سره مصری ايزو سره خوا په خوا ځای نيسي.

د ليکوال ( زما ) مصری ايزې ځپېزه ( ځپه، سېلاب، هجا ,, سيلبيل Syllable،، د ابېځو شمېرلو) - خجيزه ( زورنه، خج، اکسنټ ,, لفظ، د موسيقي نوټ: د خج نښه: د توري په سرنښه , چې د تلفظ د جګوالي او ټيټوالي زور، او رږدوالي، کيفيت ښيي،: ټينګه , لهجه ،: تاکيد: بيلوونکي نښه: د وينا , ځانګړی، خاص او بېل ، ډول. :Accent, Morphemel ،،) د پينځه سره مصری ايزې او شپږ سره مصری ايزې جوړښت په دې ډول دی:

## ۴ .۸ د مصری ايزې ځپېزې او زورنې

U-UUUU-UUUU
U-UUUU-UUUU
U؛U-UUUU-UUUU
U-UUUU-UUUU؛U
U-UUUU-UUUU-UUUU

## د ایــزو ښېرنــچوپیري
( د ایزۍ ریسرچ پاڼې)

حو– سن – په – رس + **ته** ـ غوا– ړي ـ **سپي** + نې
دا – نو – رې – **نه** + ار ـ ځي – په ـ **مي** + نې!!؟
فر – دوس – نه ـ **سته** + ړی ـ نه – خوا ـ **شي** + نې؛ـ وی!
وه؛ ستر – ګې – ره ـ **نې** + تو ـ رې – شې ـ **ري** + نې
سپي – نې – ان ـ **جو**+ نې‌ـ سو – یي – **مال** + ګې ـ غون – دې ـ **وي**+ نه

۱ـ ۲ـ ۳ـ **۴ـ** ۵ـ ۶ـ ۷ـ **۸ـ** ۹
۱۰ـ ۱۱ـ ۱۲ـ **۱۳ـ** ۱۴ـ ۱۵ـ ۱۶ـ **۱۷ـ** ۱۸
۱۹ـ ۲۰ـ ۲۱ـ **۲۲ـ** ۲۳ـ ۲۴ـ ۲۵ـ **۲۶ـ** ۲۷؛ ۱
۲؛ ۲۸ـ ۲۹ـ ۳۰ـ **۳۱ـ** ۳۲ـ ۳۳ـ ۳۴ـ **۳۵ـ** ۳۶

۳۷ـ ۳۸ـ ۳۹ـ **۴۰ـ** ۴۱ـ ۴۲ـ ۴۳ـ **۴۴ـ** ۴۵ـ ۴۶ـ ۴۷ـ **۴۸ـ** ۴۹

د لیکوال پېنځیزونې مصری ایزې ښپیز او زورنې جوړښت بڼه

U-**U**UUU-**U**UUU
U-**U**UUU-**U**UUU
U-**U**UUU-**U**UUU
U-**U**UUU-**U**UUU
U-**U**UUU-**U**UUU
U-**U**UUU-**U**UUU-**U**UUU

پښ – تو – پښ ـ **تی** + را – ما – ته ـ **وي** + نه
اي – مان – اي ـ **مان** + نه – را – نه ـ **ځي** + نه
تا – سې – به – **ښوک** + دا ـ سې – پرېږ‌ـ **دي** + نه
وي – نې – مې ـ **ښبنې** + وي ـ نې – مو‌ـ **ځي**+ نه
د – الله – ده ـ ښن + ښوک ـ نه – وه ـ **ژي** + نه
له – رې – ویش ـ **تون**+ کی‌ـ مو – اوس – **تڼ** + ډې ـ ته – که ـ **وه** + مه

۱- ۲- ۳- ۴- ۵- ۶- ۷- ۸- ۹
۱۰- ۱۱- ۱۲- ۱۳- ۱۴- ۱۵- ۱۶- ۱۷- ۱۸
۱۹- ۲۰- ۲۱- ۲۲- ۲۳- ۲۴- ۲۵- ۲۶- ۲۷
۲۸- ۲۹- ۳۰- ۳۱- ۳۲- ۳۳- ۳۴- ۳۵- ۳۶
۳۷- ۳۸- ۳۹- ۴۰- ۴۱- ۴۲- ۴۳- ۴۴- ۴۵
۴۶- ۴۷- ۴۸- ۴۹- ۵۰- ۵۱- ۵۲- ۵۳- ۵۴- ۵۵- ۵۶- ۵۷- ۵۸

د شپږ سره مصرۍ ایزې ښپېز او زورنې جوړښت بڼه

## ۸. ۵ د مصرۍ ایزې هندسي رغښت

د پېنځه سره مصرۍ ایزې هندسي رغښت يې داسې دی: غبرګغونډلو او پارنويکو چې ډېرۍ وخت يوه ښپه وي، دوې هم وي، درې لږې دي بېخې او څلور ښپې هم شتون لري لږ او ډېر، که نوموړي توکي شتون و لري د هرې مسرې له ډډ څخه يې په ټکي لرونکي کامه، ځینې وخت په کامه یا بېلونکې نخښې باندې ترې وړاندې ورسته او ان ځنې وخت په منځ کې هم کښو. د هرې مسرې سره يې ښکاره کېدل څرګندول کېږي. که شتون يې نه درلود بیا هېڅ نه راځي ورسره. لکه په لاندېنۍ بڼه کې، خو چې شتون يې و درلود په همدې بڼه يې هندسي رغښت دی.

الف. (----)؛ ____________؛ (----)
(----)؛ ____________؛ (----)
(----)؛ ____________؛ (----)
(----)؛ ____________؛ (----)
(----)؛ ______________________؛ (----)

ب. (----)؛ ______ (----)؛ (----)؛ ______؛ (----)؛ (----)؛ ______ (-
---)؛ (----)؛ ______(----)؛ (----)؛ ____________________ (----)؛

د پېنځه سره مصرۍ ایزې هندسي رغښت يې داسې دی:

الف. ____________
____________
____________
____________
____________
______________________

ب. ______ ______ ______ ______ ______ ____________________

## ۸. ۶ د مصری ایزې سپړنه

د دې مصری ایزې سپړنه
لومړی مسره ۰+ ۹+ ۰ = ۹ ښپې ده چې ,, ،، دفتنګونه او پارنویکي نه لري.
دوېیمه مسره ۰+۹+ ۰ = ۹ ښپې ده چې ,, ،، دفتنګونه او پارنویکي نه لري.
درېیمه مسره ۰+ ۹+ ۱ = ۱۰ ښپې ده چې ,, وی! ،، پارنویکي لري.
څلورمه مسره ۰+۹+ ۱ =۱۰ ښپې ده چې ,, وه ،، پارنویکي لري.
پینځمه مسره ۰+۱۳+ ۰ = ۱۳ ښپې ده چې ,, ،، دفتنګونه او پارنویکي نه لري.

دلته ټوله پینځیزوني مصری اېزه ۵۱ ښپې شوي ده، دا پنځي پینځه سره مصری اېزه پارنویکي او غبرګ غږونه لري، نو د ښپې په ګڼه ډېروالی راغلی دی؛ ولس کې دغبرګغږونه او پارنویکي... . لرغن دود دی او د مصری اېزې برخه ده.

▲ حسن **پرسته** غواړي سپینې
▲ دا نورې **نه** ارځي په **مینې**!!؟
▲ فردوس نه **ستړی** نه خواشینې؛ وی!
▲ وه؛ سترګې **رڼې** تورې شیرینې
سپینې **انجونې** سویې **مالګې** غوندې **وینه**

۱. لومړی مسره
۲. دوېیمه مسره
۳. درېیمه مسره
۴. څلورمه مسره
۵. پینځمه مسره
۶. ۱. ۲. ۳. ۴. او ۵. یوه مصری اېزه
۷. دفتنګونه لري. وی!؛ وه
۸. ښپې( سیلابونه)
   ۱. مسره ۹ ښپې ده
   ۲. مسره ۹ ښپې ده
   ۳. مسره ۱۰ ښپې ده
   ۴. مسره ۱۰ ښپې ده
   ۵. مسره ۱۳ ښپې ده
۹. زورنه (خجنه) **بولډ**
۱۰. د اوازتیوالی او لوړوالی خطونه،اهنګ؛ترنګتوک
۱۱. شیتلي رنګ یې د رنګ بښکاروندی دی.
۱۲. سرو ته منسوبي (اړوند)

د ټاټوبي سرغندوی هېښنده سندرغاړی باچا خان لغماني ویلې.
وخت: (وخت ټاکل، نېټه ایښودل: پرسور برابرول: وخت اندازه کول وخت، دوران، نیټه: ټیك وخت، ټایم، وخت، بیدو، موده، موقع: دم، وار، ځل: ګړی، ساعت، شیبه، غوټه: مهال: دموسیقي شیبه: پروخت، پرټاکلي وخت.).
.: ۲۸:۳٤:۰۰:۰۰ ( رپ: ثانیې: دقیقې: ساعت) په وخت کې ویلي ده.
د لا ډېرو معلوماتو له پاره ۱۵ ښپرکی و ګورئ.

# د ایــزو څېړنــچوپړي
## ( د ایزې ریسرچ پاڼې )

د دې مصرۍ اېزې سپړنه

لومړۍ مسره ٠+ ٩+ ٠ = ٩ څپې ده چې ،، ،، دفتنګونه او پارنویکي نه لري.
دوېیمه مسره ٠+٩+ ٠ = ٩ څپې ده چې ،، ،، دفتنګونه او پارنویکي نه لري.
درېیمه مسره ٠+ ٩+ ٠ = ٩ څپې ده چې ،، ،، دفتنګونه او پارنویکي نه لري.
څلورمه مسره ٠+٩+ ٠ = ٩ څپې ده چې ،، ،، دفتنګونه او پارنویکي نه لري.
پینځمه مسره ٠+٩+ ٠ = ٩ څپې ده چې ،، ،، دفتنګونه او پارنویکي نه لري.
شپږمه مسره ٠+١٣+ ٠ = ١٣ څپې ده چې ،، ،، دفتنګونه او پارنویکي نه لري.

دلته ټوله مصرۍ اېزه ٤٩ څپې ده، دا پنځې پینځه سره مصرۍ اېزه پارنویکي او غبرګ غږونه نه لري، که در لودلی نو د څپې په ګنه ډېروالی راتله او ولس کې دغبرګغږونه او پارنویکي... . لرغن دود دی او د مصرۍ اېزو برخه ده.

١. لومړۍ مسره
٢. دوېیمه مسره
٣. درېیمه مسره
٤. څلورمه مسره
٥. پینځمه مسره
٦. شپږمه مسره
٧. ١. ٢. ٣. ٤. ٥. او ٦. یوه مصرۍ اېزه ده
٨. زورنه (خجنه) **بولډ**
٩. د اوازتیوالی او لوړوالی خطونه،اهنګ؛ترنګتوک؛
١٠. دفتنګونه نه لري.
١١. شیتلي رنګ یې د رنګ ښکاروندی دی.
١٢. سرو ته منسوبې(اړوند)
١٣. څپې( سیلابونه)
١. مسره ٩ څپې ده
٢. مسره ٩ څپې ده
٣. مسره ٩ څپې ده
٤. مسره ٩ څپې ده
٥. مسره ٩ څپې ده
٦. مسره ١٣ څپې ده




د ټاټوبي سرغندوی هېښنده سندرغاړی باچا خان لغماني ویلې.
وخت: (شیبه، غوټه: مهال: دموسیقي شیبه: پرټاکلي وخت).
:. ٠٠:٤٥:٠٠:٠٠ ( رپ: ثانیې: دقیقې: ساعت) په وخت کې ویلې ده.

د لا ډېرو معلوماتو له پاره ١٥ څېرکی و ګورئ.

## ۸. ۷ تې (ت):. د لیکوال څرګندول چې رونوي کتنه داسې. د لیکول پېنځه سره مصرى ایزې او شپږ سره مصرى ایزه په لاندې بڼه لورى موږ ته په لاس را کوي لکه:

۱. لندې ایزې له لندی څخه رغښت مومي، تپه ایزې له تپې څخه، تیکی ایزې له تیکی څخه او مصرى ایزې له مصرى څخه.

۲. لندی ایزې د لندی پیلنی مسرې کاپي، ورته بڼه، ورته ډول، پرمختګ شوی روغ کوښښ دی؛ تپه ایزې د تپې پیلنی مسرې کاپي، هم بڼه، هم ډول پرمختګ شوی روغ کوښښ دی؛ تیکی ایزې د تیکی پیلنی مسرې کاپي، ورته بڼه، ورته ډول، پرمختګ شوی روغ کوښښ دی او مصرى ایزې د مصرى پیلنی مسرې کاپي، ورته بڼه، ورته ډول، پرمختګ شوی روغ کوښښ دی.

۳. دریېمه بڼه او څلورمه بڼه د ایزو موږ ته په پوخ کې کوي چې پېنځه سره او شپږ سره لري.

۴. څومره والی د ایزو موږ ته په پوخ کې کوي چې دریېمه بڼه پېنځه مصرى ایزې دي؛ څلورمه بڼه یوه دانه ده، پیلنی هره یوه یې یې پېنځه مسرې او پایلنی یې شپږ مسرى لري.

۵. ځینې زورنې یې لړه زورنه لري، ځینې یوه څه زیات، خو ټولیز پایخج یا پاینی زورنه یې ترټولو پیاوړې راغلې او د مخنیو غونډلو بېلابېل اهنګونه د هماغې وروستی غونډلې تر سیورې لاندې کمزورې پاتې شوې. دا نو یوازې په ساز او اواز کې څېرمه اهنګونه جوتوالی ( برجسته والی) مومي او له ژبنې ډګره نور راوځي.

۶. د ایزې پېیلې پېنځګونې رغنده ټوکونه لکه: ژبه، تول، واند (خیال)، اند (فکر) او ولوله ( احساس، عاطفه) په کې په ایز او ایزه بڼه شتون لري.

۷. مصرى ایزه میچه د څپیزه او خجیزه تولوالې ( Syllabic and Tonic Measurement System ) یوه بڼه او لاربنوده مخبېلګه ده، له ژبنې پلوه لر.

تر لږه پېنځه او شپږ یا زیاتې غونډلې را اخستې، خو هم یې څپې له ټاکلي شمېر نهه؛ نهه؛ او نهه؛ او دیارلسو څخه تیری نه دی کړی. هم یې زورنې له ټاکلي شمېر څلورو څخه تېری نه دی کړی؛ غبرګغږونه او پارنویکي په کې شتون لري. دیفتنګونه ،غبرګغږونه، ناتړوییکي، تړوییکي، ستربل، اوستربل، پارنوییکي، بلنوییکي، اندېښنې، هیبجاني چغې، لکه: الله وی!، وی، او، نو وی!!، جان، ځانه!، خانه!، اشنا، شیرینه، ګرانه، یا الله، یه، وا!، وای!، وه!، وه الله، ای!، وه الله وی!!، وا وی، وای وای. نو، الله، او، کنه!، ګرانه!، یه کربانه!، یه پښتیانا!، یه ځلمیه!، هه بچیه!، یه کربانه!، ای الکه! وروره!، بخته میره! دغه راز هو، نه، ښه، څنګه، ولې...)، نومړي ټول د مصری ایزې توکي دي، چې کله د هرې مسرې پیل کې، کله منځ، ډېری وخت په پای کې ویل کیږي او د څپو په شمېر کې ډېر والی راولي.

لکه په پیلنی مصری ایزې یا پېنځه سره مصری ایزه یا پنځمه بنه مصری ایزه کې؛ وی! او وه!؛ پارنویکي په دې بنه راغلي دي. د اولې مصری ایزې د دربیمې ۹ څپېزه مسرې په پای کې؛ وی! راغلې چې دا مسره ور سره لس څپېزه کیږي. په ورته بنه په دوېیمه مصری ایزه کې هم په همدې مسره کې؛ وی! راغلې چې دا مسره ور سره لس څپېزه کیږي. په دربیمې او څلورمې مصری ایزې د ۱۳ څپېزې مسرې په سر کې د وه!؛ راغلی دی چې مسره ور سره ۱۴ څپې شوې. په پېنځمه مسرې په دربیمه ۹ څپېزه مسرې په پای کې وی! پارنویکي را غلی دی او د څلورمه مسرې په سر کې وه! پارنویکی راغلي دی چې نومړې مسره لس څپېزه شوي ورسره.

چې په ټوله کې ۵ دانې پېنځه سره مصری ایزې ( ۵*۴۹ + ۶ = ۲۵۴ + ۶ = ۲۵۱) څپې کیږي. د ورډ پوستکالي له پامه نومړې مصری ایزه، په یوه چوپړې کې ده، ۱۴۶ ویکي لري، ۵۱۹ (منشور: د رسمي سند ور کونه مستعمراتو ته د حقوقو ور کونه: دربست نیونه ,, د ابېڅو او نورو،، پرانت.) دانې یې وت نه یا پرته له وته د ابېڅو ځای نیونه لري، ۶۸۶ دانې منشوره یې له وت سره دي، ۲۵ پراګرافه دي او ۵۲ لینو کې کښل شوي دي.

پېنځمه بنه مصری ایزه یا شپږ سره مصری ایزه چې یوه دانه ده، پارنویکي نه لري، ټوله ۵۸ څپې ده، د ورډ پوستکالي له پامه نومړې مصری ایزه، په

یوه چوپړي کې ور سره مله ده، ۳۲ ویکي لري، ۱۳۶ داني يې ابېڅو ځای نیونه وت نه یا پرته له وته د ابېڅو ځای نیونه لري، ۱۷۴ داني د ابېڅو ځای نیونه له وت سره دي، ۶ پراګراپه ( د لیکنې یوه برخه، بنده، پاراګراپه) دي او ۱۳ لینو کې کښل شوي ده.

۸. د ایزۍ رنګونو ښکاروندی يې شپتلي دی ( Color model: RGB, Red:۰, Green: ۱۵۳, Blue:۰). د لښتیلیک (جدول) ۱ . ۲ . ۱ پينځه څلوېښتو پینتو شعرونو او یو سلو شپېته بېلا بېلو نورو پښتو شعرو رنګونو ښکاروندی (د رنګونو کوډ)، ۱۳۹۵ لېږدیز لمریز کال په سته ۳۶ ګڼه دی.

۹. د ایزۍ پنځ له هغې لندی، ټپې، ټیکی او مصری کېږي چې منځه ( هسته) وي. چې ځانګړې ځانګړنې يې لندی، ټپې، ټیکی او یا مصری ته ورته وي. د ایزۍ نوموړې منځه موږ په خپل رنګ يې چې د ایزۍ رنګونو ښکاروندی يې شپتلي دی، په شپتلي يې ښکو چې سرباري، یا بېخباري یا تکراري مسرې يې هم شپتلي رنګ لري، د دې له پاره تر ډېره پورې دا څرک موږ ته په لاس را کوي چې د ایزۍ پنځې منځه وي.
ګډولې بنه یا اونګ بنه جوړه کړې مسرې هغه رنګ لري چې یا لندی ته منسوبې وي، یا ټپې ته منسوبې وي، یا ټیکی ته منسوبې وي او یا مصری ته منسوبې وي نو د همغو منسوبو شویو رنګ باندې پاتې کېږي، له دې څخه يې د پنځ نوم هم اخستل کېږي چې دا ایزه لندی ایزه ده، که ټپه ایزه ده، که ټیکی ایزه ده او که مصری ایزه. له دې سره سم دا مصری ایزې دي.

۱۰. د مصری ایزې پېیلن لیکوال اینج. ص. ف تولې په ګډولې بنه یا اونګ بنه جوړه کړې ( مصنوعي: دیسي، شلخي، ګډول، ترکیبي، یوه ځای کول: فیصله کول: جوړول: صرف نظرکول ,, د جرم د مجازاتو څخه،، : موافقې ته رسېدل. ګډ، د دوو یا ډېرو اجزاوو څخه جوړشوی. انګړ، غولی، احاطه شوی ځای ، جارګی، چمبړ: مرکب) یا ( Mixdesign, Synthetic or compound ) کښلې دي، هره یوه نوي ګډوله رغولې چې د نوي مصری سکالو ځانګړنې؛ نخښې او بېلوالی يې ځانته غوره کړی دی. هره یوه مسره يې په لیکه کړې یا په لیکه برابرول (Alignment) شوي، د سکالو تسلسل ( continuity, succession) سره لري، له مصری يې څرګندېږي چې پیلنی پېنځه سره

مصرۍ ایزه دیسي نه ده، له نورو لرغونو پښتني وګړني پیپلي څخه روغه ګډوله شوي نه ده. دا به داسې ښکارېږي چې پنځي , طبیعي، دي؛ مصنوعي , دیسي او شلخي، نه دي. پاینۍ شېړ سره مصرۍ ایزه دیسي نه ده، له نورو لرغونو پښتني وګړني پیپلي څخه روغه ګډوله شوي نه ده. دا به داسې ښکارېږي چې پنځي , طبیعي، ده او مصنوعي , دیسي او شلخي، نه ده.

۱۱. د دغو مصرۍ ایزې پیپلن د پښتو لېوال دی، ځېګ تن دی، د لغمان یوه ښه نیک نومه وګړی دی چې ډېرۍ شعرونه یې په پښتو ادب پنځي , طبیعي، او یوه دمې پوښلې دي. د زهن د مصرۍ ایزه زېږنده یې مینه، ربښت، د پېغلو ستاینه، درناوی او ځانګېړنې یې سپینې ته باستلې دي. ربښتنې لېوال د الله په لاره، د دښن سره د اتلولۍ کولو او وېخ د پښتونوتالي حس ساتلو کړه وړه پاتې شونې پرېږ دي. بل لورې ته دا د دې له پاره نه بوږوم چې ځانمني ستاین شي، په ټوله کې د دې له پاره ده چې د نورو پیپلنو د پیپلو له پاره ترې په لرلید ګټنې واخستل شي.

۱۲. د دغو مصرۍ ایزې د زوکړې موده لکه څنګه چې زه وایم داسې ده: پیلنۍ او پایلنۍ یې اصلي ګډولې دي، په مهترلام، لغمان کې مې په خپل کور کې په ۲۰۰۷ زېږدي کال کې کښلې وې. دا مصرۍ ایزه د مصرۍ په ښه دي. د دغې مصرۍ ایزې له پاره کره بوږوم چې همدا یې د پنځې ( تخلیق) منځې ( هستې) د زوکړې موده ده.

۱۳. د ژور پام کونکي په ښه زه د لیک دود نخښې لکه: د لنډۍ ایزې، ټپې ایزې، ټیکۍ ایزې او مصرۍ ایزې په هره مسره کې د چپه پېښ ,, ،: Comma کامه، دغه (،) نښه چې جملې او کلمې سره بېلوي، ویرګول. ،،؛ ندایه ,,Exclamation!: چیغه، کریږه، د تعجب نه ډکه چیغه. که !! شي دوې برابره او که درې !!! شي درې برابره لوړه چیغه ،،؛ پوښتنې نخښه ,, ؟ Question Mark: ټپوس نخښه: پلټنه اعتراض نخښه: شك نخښه: پیشنهاد نخښه: پوښتل نخښه، ټپوس کول نخښه: شك کول نخښه: مناقشه کول نخښه، غوښتنې نخښه، وړاندېز نخښه. ،،؛ اندره ,, (:) colon: شارحي نخښه، د لویې کولمې یوه برخه. ،،؛ ټکی لرونکې کامه ,, (؛) Semicolon: بېلوونکې نخښه، هغه نخښه چې د جملې فقرې سره جلاکوي. ،،؛ شمېره ,, (#) Number: ګڼه، عدد، ګڼ

( = حساب ) ،،؛ ،، را اخیستنه ,, (،، ,,) Right left double quotation :
mark را اخیستنه، نقل، اقتباس. ،،؛ دوې لېندی ,, ( ) Superscipt right :
left parenthesis د پاسه لیکل، لکه د نامه، ادرس یا نور، اخځوک، معترضه
جمله، دوه لیندی، قوسونه. ،،؛ د اتصال ,, - hyphen minus: ګډکېدو نخښه،
یوه ځای کېدو نخښه. ،، او ټکی ,, . full stop: پنډول، پرېړول، ډك، بشپړ،
مفصل، اکثر حد او اعظمی حد. ،، په بشپړه تو ګه کارونه اړېنه بولم. په خپل
لیکي کې کښم چې د غبرګونډلو، پارنویکو، د هرې مسرې ښکاره کېدل څرګند
کړي او بېلوالی یې سپیني ته راوباسي.

## ۹. ټې (ټ):. د لومړی روغې لاسته راغلې مصری ایزې لنډمنګی پېخلیک

د زاړه ژوند د غوښتنو په پرتله د نوي ژوند چاپېری غوره، درنده او ډېر غوره دی. په کې ډېرې نوې لوړپوړې ودانی، په سړو کې تودې خونې او په تودو کې سړې خونې، نوې ښکلې او پاک له ناولې بوی، دوړو، خاورو، له رنګونو، رنګارنګیو ډک د سروزرو روغ قصرونه، نادره اسنتیا وي، په غږیز امر باندې اسباب، ختې او خواړه چمتو کول، بیا ناولې ختې او لوخې پاکول، د عقل نه منلو نوي موټرې، په پوهه او علم سمبالې نوي پېښت لېواله مېرمني، نوي د ژوند خوندې کولو اسباب، د هوساینې نوې وسپلې، پوستکالې، نرم کالې، هنداري، غوره پردې د تلویزینیونو کرخې په بنه ان د ټولې کوټې د لوی دېوال په کچه له سترو سترو لرلیدونو سره او روغ چارپیریال برابر وی. چې چارپیریال روغ وي روغ عقل زوکړه کوي.

بله لوري ته موږ ته د ریګویدا سندرې، نارې، د شپونولی (بوکولیک) شعرونه، غنایي ( لاریک) شعرونه موږ ته د لېوالتیا ولولې، پنځ نغمې، د سترو بریالیتوبونو ستاینې په کې رانغښتې وي چې خوله په خوله ترموږ رارسیدلې دي او تر اوسه یې خپل خوږوالی له لاسه نه دی ورکړی. په ازاد چارپیر یال، د دندې چارپیریال کې ترې د هوساینې، بداینې، رحمتې دنیا، دمې چارپیریال کې زموږ د ولولو، هېلو د ښکلو، زړه او زهن د ارامولو، ویده ولو، ارامولو، ودنه کولو او ټاټوبي سره د لوړ حس ساتلو جوګه کېړي موږ ته نوی ژوند په لاس را کوي.

ډېری وخت چې زموږ سندر غاړي په ژوندی بنه سندرې وایي، د دې له پاره چې له پخوا څخه یې غوره په غاړه ( ګردان، تمرین، رسل، تکرار د سندرې پخوا چې سندره په سم سور کې و وایي) نه وي کړی ساز باندې پیل کوي، چې هغه کومه

لنډی، ټپه، ټیکی او مصری چې یې په زهن کې وي، هغه ځان سره وایي او بیا پرې پیل کوي، په نوي سندرې چې په غوره بڼه یې خپل غږ کې و وایي.

په همدې بڼه چې لاندې مصری ایزه محمد نور کښلي وه، ترې وړاندې یې دوې لنډی لاندینی کښلي دي. بیا یې مصری ایزې کښلې دي؛ له یوه لورې د به ډېری وګړني پیبلې په ژوندی بڼه جوړولې او په ساز کې به یې یا خپله او یا له سندرغاړو سره ویلې. له دې څخه داهم سپینې ته راوځي چې دا لاندېنی مصری ایزې د په ژوندی بڼه بوږ ولې وي. بل لورې ته زه دا کره بوږوم چې نوموړې مصری ایزه د ټاټوبي په تاریخ کې لومړنی وي چې کښل شوي، ویل شوي او په لیکلي بڼه په لیکي کې خوندي شوې، په ۱۲۷۹ لیږدي چې له ۱۹۰۱ زیږدي سره برابره ده، پیبلن یې د امیر شیرعلي خان په وخت کې ځلمی و. د میوند جګړې د ده په ژوند کې شوې دي او دی د امیر عبدالرحمن د ځاوکونو له غړو څخه و.

## ۹. ۱ ټې (ټ):. لاندېنی دوې لنډی چې دي له مصری ایزې څخه وړاندې ویلي دي په لاندې بڼه لوری موږ ته په لاس را کوي لکه:

۱. لنډی ایزې له لنډی څخه رغښت مومي، ټپه ایزې له ټپې څخه، ټیکی ایزې له ټیکی څخه او مصری ایزې له مصری څخه.

۲. لنډی ایزې د لنډی پیلنی مسرې کاپي، ورته بڼه، ورته ډول، پرمختګ شوی روغ کوښښ دی؛ ټپه ایزې د ټپې پیلنی مسرې کاپي، هم بڼه، هم ډول پرمختګ شوی روغ کوښښ دی؛ ټیکی ایزې د ټیکی پیلنی مسرې کاپي، ورته بڼه، ورته ډول، پرمختګ شوی روغ کوښښ دی او مصری ایزې د مصری پیلنی مسرې کاپي، ورته بڼه، ورته ډول، پرمختګ شوی روغ کوښښ دی.

۳. تر ټول لومړی بڼه یا کوشنی بڼه د ایزو موږ ته په پوخ کې کوي چې درې سره لري.

٤. څومره والی د ایزو موږ ته په پوخ کې کوي چې اووه دانې دي او هر یوه یې درې مسری لري.

٥. ځینې زورنې یې لږه زورنه لري، ځینې یوه څه زیات، خو ټولیز پایخج یا پاینی زورنه یې ترټولو پیاوړې راغلې او د مخنیو غونډلو بیلابیل اهنګونه د هماغې وروستی غونډلې تر سیورې لاندې کمزورې پاتې شوي. دا نو یوازې په ساز

او اواز کې ښېرمه اهنګونه جوتوالی ( برجسته والی) مومي او له ژبني ډګره نور راوځي.

۶. د ایزې پېیلي پېنځګوني رغنده توکونه لکه: ژبه، تول، واند (خیال)، اند (فکر) او ولوله ( احساس، عاطفه) په کې شتون لري.

۷. مصرۍ ایزه میچه د ښپیزه او خجیزه تولوالي ( Syllabic and Tonic Measurement System ) یوه بنه او لاربنوده مخبېلګه ده. له ژبني پلوه لږ تر لږه درې یا زیاتې غونډلې را اخستې، خو هم یې ښپې له ټاکلي شمېر نهه؛ نهه؛ او دیارلسو څخه تیرې نه دې کړې؛ هم یې زورنې له ټاکلي شمېر څلورو څخه تېرې نه دې کړې.

۸. د ایزې رنګونو ښکاروندې یې شپټلي دي ( Color model: RGB, Red:۰, Green: ۱۵۳, Blue:۰). د لښتیلیک (جدول) ۱ . ۲ . ۱ پېنځه څلوېښتو پښتو شعرونو او یو سلو شپېته بېلا بېلو نورو پښتو شعرو رنګونو ښکاروندې (د رنګونو کوډ)، ۱۳۹۵ لېږدیز لمریز کال په سته ۳۶ ګڼه دې.

۹. د ایزې پنځ له هغې لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ کېږي چې منځه ( هسته) وي. ځانګړې ځانګړنې یې لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او یا مصرۍ ته ورته وي، د ایزې نوموړې منځه موږ په خپل رنګ یې چې د ایزې رنګونو ښکاروندې یې شپټلي دي، په شپټلي یې ښکو او چې سرباري، یا ښخباري مسرې یې هم شپټلي رنګ لري. د دې له پاره تر ډېره پورې دا سرک موږ ته په لاس را کوي چې د ایزې پنځې منځه وي. ګډولې بڼه یا اونګ بڼه جوړه کړې مسرې هغه رنګ لري چې یا لنډۍ ته منسوبې وي، یا ټپې ته منسوبې وي، یا ټیکۍ ته منسوبې وي او یا مصرۍ ته منسوبې وي نو د همغو منسوبو شویو رنګ باندې پاتې کېږي. له دې څخه یې د پنځ نوم هم اخستل کېږي چې دا ایزه لنډۍ ایزه ده، که ټپه ایزه ده، که ټیکۍ ایزه ده او که مصرۍ ایزه.

۱۰. له مصرۍ ایزې وړاندې یې چې دوې لنډۍ کښلې دي، دوېیمه لنډۍ یې لکه ورمې یا نصیحتې یا متل په بڼه کښلې ده او له دې لنډۍ څخه د متل په شان ګټنه اخستل کېږي. بل لورې ته ماته دا دوې سوه سلنه سپینې ته باسي چې الله بخښلی محمد نور بابا نوموړې لنډۍ ترکیبي جوړه کړې، لومړۍ مسره یې د لرغونو لغمانیو وګړنې ادب څخه را خستې او دوېیمه مسره یې خپله کښلې ده. کره بڼه

مې له خپلې موره له کوشنیوالي اوریدلې او هغې هم خوله په خوله له نور میندو څخه یاده کړې. دی وایي او ده ته منصوبه هم ده: لکه:- په څو ځلې مې درته ویلي – چې د دیدن په ځای کې رو ږده قدمونه؛ کره بنه لنډۍ یا نوموړی ورم په دې بنه دی: په څو ځلي مې درته ویلي – چې له اشنا دښمنه! ځان ساته مینه. بل لورې ته له دې لنډۍ څخه یې په مصری ایزه کې ګټنه هم نه ده اخستې.

۱۱. له مصری ایزې وړاندې یې چې دوې لنډۍ کښلې دي، لومړی لنډۍ یې په ګډولې بنه یا اونګ بنه جوړه کړې ( مصنوعي: دیسي، شلخي، ګډول، ترکیبي، یوه ځای کول: فیصله کول: جوړول: صرف نظرکول ,, د جرم د مجازاتو څخه،، : موافقې ته رسېدل. ګډ، د دوو یا ډېرو اجزاوو څخه جوړشوی. انګړ، غولی، احاطه شوی ځاي، جارګی، چمبړ: مرکب) یا ( Mixdesign, Synthetic or compound ) کښلې ده، د نوموړې لنډۍ دوییمه مسره یې لرې کړې او په مصری ایزه کې ګډوله رغولې چې د مصری سکالو ځانګړنې، نخښې او بېلوالی یې ځانته غوره کړی دی. په څلورمه مصری ایزه کې یې وینئ لکه : یوه وارې غاړه غجی راشه - د تا دیدن په سې شیدا دي عالمونه؛ په دې بنه مصری ایزه یې کښلې ده ترې: یوه وارې غاړه غجی راشه، سهار وختي را ځینې لاړ شه- بلا په سې کا حاکم واخستل جرمونه.

۱۲. په دوییمه مصری ایزه کې د مسرې ګډوله تر ډېره پورې له ځان څخه روغه روغولې په دې بنه: په یارنه کې زړه سندان کړه، پاس په تندي قبول بدان کړه - په کې پښېړي د پلکونو ګوزارونه. د دې مصری ایزې پیلنۍ مسره او پاینۍ مسره اوستاد ګل باچا الفت په دې بنه را خستې : په یارنه کې زړه سندان کړه - په کې پښېړي د پلکونو ګوزارونه. له بل لورې څخه موږ ټول د یوه ولایت او سیمې یو؛ تر ډېره پیېلن د دروزګري لېوال هم و، اوسپنې یې په اوبو او پلکونو ټینګي، تېرې، جوړې کړې هم دي، نالوستی هم و، له اوستاد ګل باچا الفت څخه مشر هم و او ناسته یې هم سره شونې وه چې لرله. دا نو داسې نه ورته نه شو ویلی چې وګړنی پیېله دې نه وي او الفت صیب په خپل کتاب پښتو سندرې کې راوړې یا راټوله کړې او کتاب یې هم په ۱۳۲۵ زېږدي کې چاپ شوی دی، له دې لیکي وړاندې په لیکلې بنه د لنډیو کوم لیکی (کښلی، کتاب) د پښتنو او افغانستان په پېخلیک ( تاریخ) کې نه دی چاپ شوې.

## د ایــزو ښېرنــچوپېري
(د ایزې ریسرچ پاڼې)

▲ یوه وارې غاړه غجۍ راشه

د تا دیدن په سې شیدا دي عالمونه

▲ په څو ځلې مې درته ویلې

چې د دیدن په ځای کې رو ړده قدمونه

د لاندې مصرۍ ایزې پېیلن اروابناد محمد نور بابا په مهترلام کې زموږ د کلي لویدیځ اړخ ته یې مېنه او زیارت دی، چې په ۱۲۴۳ لېږدي کې زوکړه شوی او په ۱۳۳۹ لېږدي کې په ۹۶ کلنۍ کې وفات شوی دی. نوموړې مصرۍ ایزه یې په ځوانۍ کې ویلې ده. د پېیلو له لړ، د شعر له سکالو او د ژوند له شېبو یې دا پښتو وګړنی پېیله لړ تر لړه په ۱۲۷۹ لېږدي (۱۹۰۱ زیږدي) کې کښلی وي.

▲ ,, محبوبې ځان دې که سینګاره
▲ ستي دې کړم په سور انګاره

دا تور زلفان دې په سپین مخ وهي ټالونه

▲ په یارنه کې زړه سندان کړه
▲ پاس په تندي قبول بدان کړه

په کې پښېړې د پلکونو ګوزارونه

▲ زړه مې صندق دی د پولاده
▲ اګر که نه لرم اولاده

په د تیر شوي د سکروټو بارانونه

▲ یوه وارې غاړه غجۍ راشه
▲ سهار وختې را ځینې لاړ شه

بلا په سې کا حاکم واخستل جرمونه

▲ د لېونيانو سره مل وی
▲ د تا د سپيني خولګی غل وی

د ما يې ښه ايسې دا ښېرې ګرېوانونه

▲ په صورت روغ درته ښکارېږم
▲ کله کې نم کله پا سېرږم

ظاهر يم روغ باطن مې درد کا اندامونه

▲ دا خال او خط هم د مصرو دی
▲ د محمد نور په وينو سرو دی

د زړه د سوخته رنګارنګ کړې بيانونه،،

( لال باچا، ۱۳۷۲ ل، ۱۳۹ چوپړی)

## ۹. ۲ چې (چ):. د لومړی روغې لاسته راغلې ټپه ايزې لندمنګی پېښليک

دا لاندې ټپه ايزې د الله بخښلي مفتي عبدالحنان داعي دي: چې د دې لاندې ټپه ايزې پېيلي پېيلن زموږ د مهترلام ولسوالی دی، کلی يې پېنځه کيلومتره زموږ د کلي لويديځ اړخ ته پروت دی، د مبنې ( کلي) نوم يې د زيارت دی او په مهترلام بابا زيارت کې نوموړی پېيلن ښخ دی. اروا ښاد مفتي عبدالحنان د شيخ احمد خان زوی چې زما د مولوي احمد خان بابا ملګری و، په ۱۲۶۰ لېږدي کې زوکړه شوی او په ۱۳۲۳ لېږدي کې په ۶۳ کلنی کې وفات شوی دی. نوموړې ټپه ايزې (ټپيزې) يې په ځوانی کې ويلي دي، د پېيلو له لړونو ۲۷۴۴ پښتو بيتونه او ۲۳۴ دري بيتونو په لومړی نخسه کې لري، چې په ټوله کې ۱۱ دري غزلې، ۱۱۷ پښتو غزلې، ۳ قطعې، ۶ مقامونه، ۲ داستانونه، ۵۶ چاربيتې، ۲۹ بګټی او ۱۰ لوبې يې په لغمانی بې لهجې پښتو ژبه کې کښلي دي له دو ښخه، د شعر له سکالو او د ژوند له شيېبو يې دا پښتو وګړنی پېيله لړ تر لړه په ۱۲۹۰ لېږدي کې ويلي ده. ښلوېښت کاله وړاندې د محمد ظاهر شاه خان په وخت کې ګلکي اوستاد له خپل زوی پينده سره ويلي ده، د پيټې پته يې شېږمه پيته ده او ۴ ټپه ايزې د ده په کې شتون لري.

وخت : (وخت ټاکل، نېټه ایښودل: پرسور برابرول: وخت اندازه کول وخت، دوران، نیټه: ټیك وخت، ټایم، وخت، بیدو، موده، موقع: دم، وار، ځل: ګړی، ساعت، شیبه، غوټه: مهال: دموسیقي شیبه: پروخت، پرټاکلي وخت.). ۰۰:۰۱:۵۵:۱۲ (رپه: ثانیې: دقیقې: ساعته) په وخت کې ویلي دي.

## ۹. ۲. ۱ چې (چ):. دا ټپه ایزې په لاندې بڼه لورى موږ ته په لاس را کوي لکه:

۱. لنډۍ ایزې له لنډۍ څخه رغښت مومي، ټپه ایزې له ټپې څخه، ټیکی ایزې له ټیکۍ څخه او مصرۍ ایزې له مصرۍ څخه.

۲. لنډۍ ایزې د لنډۍ پیلنۍ مسرې کاپي، ورته بڼه، ورته ډول، پرمختګ شوی روغ کوښښ دی؛ ټپه ایزې د ټپې پیلنۍ مسرې کاپي، هم بڼه، هم ډول پرمختګ شوی روغ کوښښ دی؛ ټیکی ایزې د ټیکۍ پیلنۍ مسرې کاپي، ورته بڼه، ورته ډول، پرمختګ شوی روغ کوښښ دی او مصرۍ ایزې د مصرۍ پیلنۍ مسرې کاپي، ورته بڼه، ورته ډول، پرمختګ شوی روغ کوښښ دی.

۳. دوېیمه کوشنۍ بڼه د ایزو موږ ته په پوخ کې کوي چې درې سره لري.

۴. څومره والی د ایزو موږ ته په پوخ کې کوي چې څلور دانې دي او هر یوه یې درې مسرې لري له ماتې شوي (کسري، تکراري، پاییاري، سویي سرباري، بېخباري) ټپې سره چې له دوې مسرو څخه جوړه ده. د هرې یوې څلورو پای سره بېخباري یا پاییاري کېږي. مېرمنو ته منسوبې دي یا د ښځو له لورې ویل شوې غونډلې دي یا اړوندې دي. دا به داسې ښکارېږي تته ټپه غونډې، لکه ټولې پینځه سره لرې چې لومړۍ، دوېیمې، څلورمې مسرې یې نهه څپېزه، درېیمې او پینځمې مسرې یې دیارلس څپېزه دي. زده کړه داسې ښايي چې څلور واړه ټپه ایزې له تتې برخې یا بېخباري سره یې د ښځو اړوندې یا منسوبې دي، ټینګه برخه یې هم ښځو ته منسوبې مسرې دي.

۵. ځینې زورنې یې لږه زورنه لري، ځینې یوه څه زیات، خو ټولیز پایخج یا پاینی زورنه یې ترټولو پیاوړې راغلې، د مخنیو غونډلو بېلابېل اهنګونه د هماغې وروستۍ غونډلې درېیمې او پینځمې مسرې تر سیورې لاندې کمزورې پاتې شوې. دا نو یوازې په ساز او اواز کې څېرمه اهنګونه جوتوالی ( برجسته والی) مومي او له ژبنې ډګره نور راوځي.

۶. د ایزه پېیلې پینځګونې رغنده توکونه لکه: ژبه، تول، واند (خیال)، اند (فکر) او ولوله ( احساس، عاطفه) په کې شتون لري.

۷. ټپه ایزه میچه د ښپیزه او خجیزه ټولوالي ( Syllabic and Tonic Measurement System ) یوه بڼه او لاربنوده مخبېلګه ده. له ژبني پلوه لږ تر لږه دري یا زیاتې غونډلې را اخستي، خو هم یې ښپې له ټاکلي شمېر نهه؛ نهه؛ او دیارلسو څخه تیرې نه دی کړی او هم یې زورنې له ټاکلي شمېر څلورو څخه تېرې نه دی کړی.

۸. د ټپه ایزې بېیلن الله بخښلي مفتي عبدالحنان تولي په ګډولې بڼه یا اونګ بڼه جوړه کړې ( مصنوعي: دیسي، شلخي، ګډول، ترکیبي، یوه ځای کول: فیصله کول: جوړول: صرف نظرکول ,, د جرم د مجازاتو څخه،، : موافقي ته رسېدل. ګډ، د دوو یا ډېرو اجزاوو څخه جوړشوی. انګړ، غولی، احاطه شوی ځاي، جارګی، چمبړ: مرکب) یا ( Mixdesign, Synthetic or compound ) کښلې دي، هره یوه نوي ګډوله رغولې چې د نوې ټپې سکالو ځانګړنې، نخښې او بېلوالی یې ځانته غوره کړی دی. هره یوه مسره یې په لیکه کړې یا په لیکه برابرول (Alignment) شوې، د سکالو تسلسل ( continuity, succession) سره لري، له لنډیو یې څرګندیږي چې له نورو لرغونو پښتني وګړني پېیلو څخه روغي ګډوله شوي نه دي.

۹. د ایزې رنګونو ښکاروندی یې شپتلي دی ( Color model: RGB, Red:۰, Green: ۱۵۳, Blue:۰). د لښتیلیک (جدول) ۱ . ۲ . ۱ پېنځه څلوېښتو پښتو شعرونو او یوه سلو شپېته بېلا بېلو نورو پښتو شعرو رنګونو ښکاروندی (د رنګونو کوډ)، ۱۳۹۵ لېږدیز لمریز کال په سته ۳۶ ګڼه دی.

۱۰. د ایزې پنځ له هغې لنډی، ټپې، ټیکی، او مصری کیږي چې منځه ( هسته) وي. ځانګړې ځانګړنې یې لنډی، ټپې، ټیکی او یا مصری ته ورته وي، د ایزې نومورې منځه موږ په خپل رنګ یې چې د ایزې رنګونو ښکاروندی یې شپتلي دی، په شپتلي یې ښکو. سرباري، یا ببخباري مسرې یې هم شپتلي رنګ لري، د دې له پاره تر ډېره پورې دا څرک موږ ته په لاس را کوي چې د ایزې پنځې منځه وي.

ګډولې بڼه یا اونګ بڼه جوړه کړې مسرې هغه رنګ لري چې یا لنډی ته منسوبې وي، یا ټپې ته منسوبې وي، یا ټیکی ته منسوبې وي او یا مصری ته منسوبې وي نو د همغو منسوبو شویو رنګ باندې پاتې کیږي. له دې څخه یې د پنځ نوم

هم اخستل کېږي چې دا ایزه لنډۍ ایزه ده، که ټپه ایزه ده، که ټیکۍ ایزه ده او که مصرۍ ایزه.

بل لورې ته د پیل ایزه ټوله په هغه رنګ کښو چې ټوله ربښت د پنځ مورږ ته څرګندوي، خو دوېیمه ایزه، درېیمه ایزه تر پایني ایزې پورې د ایزې په رنګ کو چې ټینګه برخه د ایزې او تته برخه د ایزې یا بېخباري برخه ایزې سره بېلوالی ومومي.

۱۱. د دې ټپه ایزې پیېلن د سندرو لېوال و، خپل شاګر یې ګلکي اوستاد و، د ګلکي لومړی ښوونکی و او پلار یې هم ګلکي ته شعرونه زده کول چې ډېری له پند ډېک نعتونه، حمدونه، نکلونه، ولسي سندرې ورکولې. هغه به ویلې چې یوازې په هغه وخت کې یوه تن چې د بغلي ډولکي یا د اړخ دیرا ( زیر بغلې) ماهر و د توتي په نامه. دوی غږوله او ګلکي به د دوی پیېلې یادولې له یادو او بیا به یې ویلې.

بیا ورسته، ورسته د خوښیو او ښادیو په ساز یا ناستې کې ګډون کوه، خپله به نومړي سندرغاړي ویلې، چې د هغه وخت ټیپي ثبت شوي اسباب به نه وو دومره یا به یې شتون نه درلوده تر ډېره پورې، ګلکي اوستاد سندرې ویلې او د عبدالحنان او د د پلار شیخ احمد خان ډېر شعرونه یې هم ویل. د دې له پاره چې دی کوشنی له دوی سره لوی شوی و او هغوی ډېر غوره دینداره او په وګړني ادب لېوال وګړي وو، چې د ډاکټر نجیب الله له باچاهۍ نه وړاندې ګلکي ۶۰ کاله پورې د دوی ډېری شاعري کړې وه پېښتنو ته چې ده به څه ویل او ټول لغمان به منل.

۱۲. د دوېیمې په درېیمه ټینګه مسرې، یا دیارلس څپېزه مسره کې ،، وه!،، او پایني ټپه ایزې په درېیمه ټینګه مسرې، یا دیارلس څپېزه مسره کې ،، وی!،، یوه، یوه څپه ډېره شوې چې د نوموړو مسرو د څپو کچه یې څوارلس، څوارلس کړې ده، هېس باکه نه لري، ځکه همدا د ټپه ایزو توکي دي. پارنوویکي او دیفتنګونه دي.

۱۳. نوموړې ټپه ایزې له بګتیو سره ډېر لږ تو پیر لري او ډېرې نږدې پولې سره لري چې دا بنه ټپه ایزې له هغهو بګتیو سره چې ورته ځانګړې ځانګېړنې ولري لږ ورته والی لري. خو ټپه ایزې ترې لږې خوږې او سندرېز بڼه لري.

## د ایـــزو څپړنـــچوپړي
(د ایزې ریسرچ پاڼې)

لړ بېلوالی یې په هندسي رغښت کې دی، لومړی دوې مسرې یا ټینګه برخه د دې نهه څپې راځي او د بګټی دیارلس څپې راځي. یا په بله وینا په دې بنه ټپه ایزه کې پینځه سره دې چې درې سره یې کوشنی دي او دوې سره یې اوږده، د بګټی یوازې یوه سر کوشنی دی او څلور سره یې اوږده.

▲ یوه مې له مینې نه زړه تور ده
▲ را باندې بل د مینې اور ده
مرګ مې قبول ده نا دېده یې قبلومه
▲ د مینې شربت به د لبانو در کومه
که په بازار مې خرسوې در سره ځمه

▲ د تا په قول مې باور نه شي
▲ که دومره کار هم له تا وشي
وه، د موزې خان له کوره نه وځې صنمه
▲ د مینې شربت به د لبانو در کومه
که په بازار مې خرسوې در سره ځمه

▲ که له موزې نه دې کړم خلاصه
▲ دا خو به لوی وکړې اخلاصه
که پرې پوهېږې لټوې به هغه روستمه
▲ د مینې شربت به د لبانو در کومه
که په بازار مې خرسوې در سره ځمه

▲ که موزیکی در په سې راشي
▲ سر به یې له تن ځینې جدا شي
وی! عبدالحنان سره چې اوسمه بې غمه
▲ د مینې شربت به د لبانو در کومه
که په بازار مې خرسوې در سره ځمه

## ۹. ۳ ځې (ځ):. د دوبیمې روغې لاسته راغلې ټپه ایزې لنډمنګی پېخلیک

دربیمه ګڼه یا دربیمه ټپه ایزې د سید باهو جان دي. چې له آره سادات، د سید اشرف زوی، د سید سعد الدین لمسی، د لغمان ولایت، د الیشنګ سیمې د کلاچې په کلي کې زوکړه شوی، په ۱۲۷۲ لېږدیز لمریز کال او په ۱۳۲۲ لېږدیز لمریز کال وفات شوی دی. د عمر کچه یې ۵۰ کاله وه، پورتنۍ ټپه ایزې یې لږ تر لره په ۱۲۹۷ لېږدي کې کښلې وې ,, د کندوز په چهل دختران په هدیره کې خاورو ته سپارل شوی دی. د زامنو له خولې یې. ،، ( سید فقیر، ۱۳۹۳ ل ل کال، ۱۷۷چوپړي).

د سید باهو جان شعرونو سره هر څوک ډېره مینه لري، د لغمان د سیمه ییزو هنرمندانو په اوازونو داسې لغمانی به نه وي چې ترغوږه شوي دي نه وي د ده شعرونه. تر ټولو ډېر شعرونه یې ملا اوستاد ویلي دي، د هغه لاندېنۍ ټپیزې یې څه باندې، پېنځه څلوېښت کاله وړاندې له موسیقي سره ویلي دي. لغمانی ترز په ټول لوی افغانستان کې په زړونو کې ځای لري چې د نوموړي ملا اوستاد ساتلی او په ټیپې کېسټو کې خوندې کړی دی. د پېټې ګڼه یې ۳ ده او په هغې کې ۹ ګڼه سندره ده. په ۰۰:۰۱:۵۹:۹۹ ( رپه: ثانیې: دقیقې: ساعته ) وخت کې یې ویلي ده، د ملا اوستاد دوې لونې زموږ ګاونډي دي، یوه یې د نصار احمد مور او بله یې د نعمان مور، چې داوړو خوریو هریوه ډاکټر محمد امیر او فیض محمد تور ته ناستې دي، غوره خواړه ګاونډیان یو سره. چې له ملاکي اوستاد سره مو لیده کاته کوی شو.

ملا اوستاد د زوی محمد صدیق ملاکي په وینا چې اوستاد ډېر حیا ناک و، څو وارې ظاهر خان او داود خان هم کابل ته غوښتی و، چې کابل ته راشي او د افغانستان په ملی راډیو کې خپل خوږ غږ ثبت کړي، خو هغه دا نه خوښوو او زړه یې نه غوښته چې لاړ شي هلته. ,, له فیروز کندوزي مې اوریدلي دي چې ویل یې , ما د ملا اوستاد سندرې ډېرې اورېدلې، او ډیرې به مې ویلې، د شولو په پټیو کې به مې ډېرې زمزمې کولې، همغه وو چې زه سندرغاړی شوم.،، د غمو لوبې تر سرلیک لاندې اصلي ټپه ایزې یې په کاستوري سور کې ویلې دي، نوموړی هم یوه پخوانی سور دی. په ارو او امور راګونو کې په زرګونه بنه طرزونه یا کمپوزونه په کې رغښت مومي چې د دې بنې سرغندوی سور هم لومړی ملا کي اوستاد ویلی دی. ډېریو سندرغاړو په دې بنه لنډۍ ایزې، ټپه ایزې، ټیکۍ ایزې او مصرۍ سندر غاړو ویلي دي، لکه ګلکي اوستاد، پینده اوستاد، ملاکي اوستاد، باچا خان لغماني، عظیم خان پېښوري، بریالي صمدي، کرن خان او وار په وار همداسې نورو ټول په خوږو اوازونو کې ویلې دي. دوی دي بریالي وي او بریا دي ورته تل په نصیب وي له موږ سره چې خپلې ژبې پښتو ته په خپلو اوزونو پنډوالی او زېرمه رغولې ده.

## ۹. ۳. ۱ ځې (خ):. دا ټپه ایزې په لاندې بنه لوری موږ ته په لاس را کوي لکه:

۱. لنډی ایزې له لنډی څخه رغښت مومي، ټپه ایزې له ټپي څخه، ټیکی ایزې له ټیکی څخه او مصری ایزې له مصری څخه.

۲. لنډی ایزې د لنډی پیلنی مسرې کاپي، ورته بڼه، ورته ډول، پرمختګ شوی روغ کوښښ دی؛ ټپه ایزې د ټپي پیلنی مسرې کاپي، هم بڼه، هم ډول پرمختګ شوی روغ کوښښ دی؛ ټیکی ایزې د ټیکی پیلنی مسرې کاپي، ورته بڼه، ورته ډول، پرمختګ شوی روغ کوښښ دی او مصری ایزې د مصری پیلنی مسرې کاپي، ورته بڼه، ورته ډول، پرمختګ شوی روغ کوښښ دی.

۳. دربیمه کوښنی بڼه د ایزو موږ ته په پوخ کې کوي چې پېنځه سره لري.

۴. څومره والی د ایزو موږ ته په پوخ کې کوي چې پېنځه دانې دي او هر یوه یې پېنځه مسرې لري. لومړی، دوېیمه، دریمه، څلورمه مسرې یې نهه څپېزه او پېنځمه مسرې یې دیارلس څپېزه دي. د دې ټولې ټپه ایزې پېنځه واړه ټپه ایزې سرو ته منسوبې دي یا د سړو له لورې ویل شوي غونډلي دي یا اړوندې دي.

۵. ځینې زورنې یې لړه زورنه لري، ځینې یوه څه زیات، خو ټولیز پایخج یا پاینی زورنه یې ترټولو پیاوړې راغلي او د مخنیو غونډلو بېلابېل اهنګونه د هماغې وروستی غونډلي پېنځه مې مسرې تر سیوري لاندې کمزوري پاتې شوي. دا نو یوازې په ساز، اواز کې څېرمه اهنګونه جوتوالی ( برجسته والی) مومي او له ژبنې ډګره نور راوځي.

۶. د ایزه پېیلي پېنځګوني رغنده ټوکونه لکه: ژبه، تول، واند (خیال)، اند (فکر) او ولوله ( احساس، عاطفه) په کې شتون لري.

۷. ټپه ایزه میچه د څپېزه او خجیزه ټولوالي ( Syllabic and Tonic Measurement System ) یوه بڼه او لاربښوده مخبېلګه ده. له ژبنې پلوه لږ. تر لږه پېنځه یا زیاتې غونډلې را اخستي، خو هم یې څپې له ټاکلي شمېر نهه؛ نهه؛ دیارلسو څخه تیری نه دی کړی او هم یې زورنې له ټاکلي شمېر څلورو څخه تېری نه دی کړی.

۸. د لنډۍ ايزې پېيلن الله بخښلي سيد باهو جان تولي په ګډولې بڼه يا اونګ بڼه جوړه کړې ( مصنوعي: ديسي، شلخي، ګډول، ترکيبي، يوه ځای کول: فيصله کول: جوړول: صرف نظرکول ,, د جرم د مجازاتو څخه،،: موافقي ته رسېدل. ګډ، د دوو يا ډېرو اجزاوو څخه جوړشوی. انګړ، غولی، احاطه شوی ځاي، جارګی، چمبړ: مرکب) يا ( Mixdesign, Synthetic or compound ) کښلي دي، هره يوه نوي ګډوله رغولې چې د نوي تېپې سکالو ځانګړنې او نخښې او بېلوالی يې ځانته غوره کړی دی. هره يوه مسره يې په ليکه کړې يا په ليکه برابرول (Alignment) شوې، د سکالو تسلسل ( continuity, succession) سره لړې او له تېپې يې څرګندېږي چې له نورو لرغونو پښتني وګړني پېيلو څخه روغې ګډوله شوې نه دي.

۹. د دې تېپه ايزې پېيلن د سندرو لېوال و، ځېرګ تن و، د لغمان يوه ښه نيک نومه وګړی و چې ډېرای شعرونه يې په وګړني ادب پوښلي و، د زهن د غمو لوبې زېرنده يې رښتنولي او پښتونواله موږ ته پرېږدي.

▲ زه په غمو کې شوم غمجنه
▲ ځم غم له غمه له وطنه
▲ غــمونو غــــم را واړونه
▲ که غم له غمه وېرېدنه
په ما به نه راتله جوړه، جوړه غمونه

▲ ځان دې له ما سره اشنا کړه
▲ سپينه خولګی دې ماته را کړه
▲ ماته دې مخ غمار ته شاه کړه
▲ زړه په سلا کړه جواب راکړه
زه دې د بلې يارۍ و ويستم مينه

▲ دا ستا به څنګه مدعا وي
▲ تاته مې مخ بل ته مې شاه وي

د ایــزو ښېرنــچوپړي
( د ایزې ریسرچ پانې)

- که ستا په شانې بې وفا وي
- زړه په صلا جواب یې دا وي

که بله وینې ماته مه ګوره مینه

- ولې دې دا ښارې په ما کړ
- غماز دې بیا راته بلا کړ
- رقیب دې ولې په خندا کړ
- ماته دې داسې ځواب را کړ

لکه ژوندی په مړې خاورې واړوینه

- مبارک تا باندې وطن شه
- بلا زما په دې ګفتن شه
- ستا دې خاورې په دښمن شه
- سید باهو جان دې په ګلشن شه

زما په مخ کې داسې مه وایه چې ځمه

## ۹. ۴ څې (خ):. د لومړی روغې لاسته راغلې لنډۍ ایزې لنډمنګی پېښلیک

د لاندې لنډۍ ایزې پېیلن اروابشاد محمد نور بابا په مهترلام کې زموږ د کلي لویدیځ اړخ ته یې مېنه او زیارت دی. په ۱۲۴۳ لیږدي کې زوکړه شوی او په ۱۳۳۹ لیږدي کې په ۹۶ کلنی کې وفات شوی دی. نوموړي لنډۍ ایزه یې په ځوانی کې ویلې ده، د پېیلو له لړ، د شعر له سکالو او د ژوند له شیبېو یې دا پښتو وګړنی پېیله لږ تر لږه په ۱۲۹۹ لیږدي کې ویلې ده. څلوېښت کاله وړاندې د محمد ظاهر شاه خان په وخت کې ګلکي اوستاد له خپل زوی پینده سره په ۰۰:۰۱:۵۸:۰۳ ( رپه: ثانیې: دقیقې: ساعته ) وخت کې ویلې ده، د پیتې پته یې اتمه پیته ده او ۱۱ لنډۍ ایزې.

## ۹. ۴. ۱ څې (خ):. دا لنډۍ ایزې په لاندې بڼه لوری موږ ته په لاس را کوي لکه:

۱. لنډۍ ایزې له لنډۍ څخه رغښت مومې، تپه ایزې له تپې څخه، تیکی ایزې له تیکی څخه او مصری ایزې له مصری څخه.

۲. لنډۍ ایزې د لنډۍ پیلنی مسرې کاپې، ورته بڼه، ورته ډول، پرمختګ شوی روغ کوښښ دی؛ تپه ایزې د تپې پیلنی مسرې کاپې، هم بڼه، هم ډول پرمختګ شوی روغ کوښښ دی؛ تیکی ایزې د تیکی پیلنی مسرې کاپې، ورته بڼه، ورته ډول، پرمختګ شوی روغ کوښښ دی او مصری ایزې د مصری پیلنی مسرې کاپې، ورته بڼه، ورته ډول، پرمختګ شوی روغ کوښښ دی.

۳. څلورمه کوشنی بڼه د ایزو موږ ته په پوخ کې کوي چې څلور سره لري.

٤. ځومره والی د ایزو موږ ته په پوخ کې کوي چې څلور دانې دي او هر یوه یې څلور مسری لري له ماتې شوي (کسرې، تکرارې، پایبارې، سویې سربارې، بېخبارې) لنډۍ ایزې سره چې له درې مسرو څخه جوړه ده. د هرې یوې څلورو پای سره بېخبارې یا پایبارې کېږي او مېرمنو ته منسوبې دي یا د ښځو له لورې ویل شوي غونډلې دي یا اړوندې دي. دا به داسې ښکارېږي لکه تنه لنډۍ ایزه غونډې. تولې اووه سره لرې چې لومړی، دوېیمه،

دربیمه، پېنځمه او شپږمه مسرۍ یې نهه څپېزه، څلورمه او اووه مه مسرۍ یې دیارلس څپېزه دي. زده کړه داسې ښایي چې څلورو لنډۍ ایزو کې لومړۍ او دربیمه ټوله لنډۍ ایزې له تتې برخې سره یې د ښځو اړوندي یا منسوبې دي، دوېیمې او څلورمې لنډۍ ایزې ټینګه برخه سړو ته منسوبه ده یا د نرانو له لورې ویل شوي غونډلې دي یا اړوندې دي، بېخباري یې ښځو ته منسوبې مسرې دي.

۵. ځینې زورنې یې لږه زورنه لري، ځینې یوه څه زیات، خو ټولیز پایخج یا پاینۍ زورنه یې ترټولو پیاوړې راغلې، د مخنیو غونډلو بېلابېل اهنګونه د هماغې وروستۍ غونډلې څلورمې او اووه مې مسرې تر سیوري لاندې کمزوري پاتې شوي. دا نو یوازې په ساز، اواز کې څېړمه اهنګونه جوتوالی ( برجسته والی) مومي او له ژبنې ډګره نور راوځي.

۶. د ایزه پېیلې پېنځګونې رغنده توکونه لکه: ژبه، تول، واند (خیال)، اند (فکر) او ولوله ( احساس، عاطفه) په کې شتون لري.

۷. لنډۍ ایزه میچه د څپیزه او خجیزه ټولوالې ( Syllabic and Tonic Measurement System ) یوه بنه او لاربنوده مخبېلګه ده. له ژبنې پلوه لږ تر لږه څلور یا زیاتې غونډلې را اخستې، خو هم یې څپې له ټاکلې شمېر نهه؛ نهه؛ دیارلسو څخه تېرې نه دی کړی او هم یې زورنې له ټاکلې شمېر څلورو څخه تېرې نه دی کړی.

۸. د لنډۍ ایزې پېیلن الله بخښلې محمد نور تولې په ګډولې بنه یا اونګ بنه جوړې کړې ( مصنوعې: دیسي، شلخې، ګډول، ترکیبي، یوه ځای کول: فیصله کول: جوړول: صرف نظرکول ,, د جرم د مجازاتو څخه،، : موافقې ته رسېدل. ګډ، د دوو یا ډېرو اجزاوو څخه جوړشوی. انګړ، غولی، احاطه شوی ځای ، جارګی، چمبړ: مرکب) یا ( Mixdesign, Synthetic or compound ) کښلې دي، هره یوه نوې ګډوله رغولې چې د نوې لنډۍ سکالو ځانګړنې، نخښې او بېلوالی یې ځانته غوره کړی دی. هره یوه مسره یې په لیکه کړې یا په لیکه برابرول (Alignment) شوې. د سکالو تسلسل (continuity, succession)

سره لري او له لنډیو یې څرګندېږي چې له نورو لرغونو پښتني وګړني پېیلو څخه روغې ګډوله شوي نه دي.

۹. د ایزې رنګونو ښکاروندی یې شپتلي ( Color model: RGB, Red:۰, Green: ۱۵۳, Blue:۰) دی. د لښتیلیک (جدول ۱ . ۲ . ۱ پېنځه څلوېښتو پښتو شعرونو او یوه سلو شپېته بېلا بېلو نورو پښتو شعرو رنګونو ښکاروندی (د رنګونو کوډ)، ۱۳۹۵ لېږدیز لمریز کال په سته ۳۶ ګڼه دی.

۱۰. د ایزې پنځ له هغې لنډی، ټپې، ټیکی، او مصری کېږي چې منځه ( هسته) وي. ځانګړې ځانګړنې یې لنډی، ټپې، ټیکی او یا مصری ته ورته وي، د ایزې نومورې منځه موږ په خپل رنګ یې چې د ایزې رنګونو ښکاروندی یې شپتلي دی، په شپتلي یې ښکو چې سرباري، یا بېخباري مسرې یې هم شپتلي رنګ لري او د دې له پاره تر ډېره پورې دا څرک موږ ته په لاس را کوي چې د ایزې پنځې منځه وي. ګډولې بڼه یا اونګ بڼه جوړه کړې مسرې هغه رنګ لري چې یا لنډی ته منسوبې وي، یا ټپې ته منسوبې وي، یا ټیکی ته منسوبې وي او یا مصری ته منسوبې وي نو د همغو منسوبو شویو رنګ باندې پاتې کېږي. له دې څخه یې د پنځ نوم هم اخستل کېږي چې دا ایزه لنډی ایزه ده، که ټپه ایزه ده، که ټیکی ایزه ده او که مصری ایزه. بل لورې ته د پېل ایزه ټوله په هغه رنګ کښو چې ټوله ربښت د پنځ موږ ته څرګندوي، خو دوېیمه ایزه، درېیمه ایزه تر پاینی ایزې پورې د ایزې په رنګ کو چې ټینګه برخه د ایزې او تته برخه د ایزې یا بېخباري برخه ایزې سره بېلوالی و مومي.

۱۱. د دې لنډی ایزې پېیلن د سندرو لېوال و، د خوښیو او ښادیو په ساز یا ناسته کې ګډون کوه. خپله به یې له سندرغاړو سره ویلې، د هغه وخت ټیپي ثبت شوي اسباب به نه وو دومره یا تر ډېره پورې به یې شتون نه درلوده، خو ګلکي اوستاذ ور سره سندرې ویلې او د هغه شعرونه یې هم ویل، چې د ډاکټر نجیب الله له باچاهی نه وړاندې ګلکي ۶۰ کاله پورې داسې شاعرې کړې وه پښتنو ته چې ده به څه ویل او ټول لغمان به منل.

۱۲. نومورې لنډی ایزې پوهندوی لال باچا ازمون د ده شعري غونډ کې چې په جنوري میاشت ۱۹۹۴ زېږدي یا د سلواغې میاشت ۱۳۷۲ لېږدي کې له چاپه سلامت تېر کړی دی، سرلیک یا نوم نه لري، نومورې لنډی ایزې په لاندېنۍ

دوبیمه بنه کښلې دي. چې پینځه دانې لنډې ایزې کېږي، هره یوه یې څلور سره لري، د لنډی تولې ځانګړنې او بېلونکې نخښې لري. پیلنی لنډی ایزه، دوبیمه لنډی ایزه او څلورمه لنډی ایزه یې ښځو ته منسوبې دي؛ دریېمه او پینځمه لنډی ایزه یې سړو ته منسوبې دي.

بل لورې ته په کې ډېر لږ یې له لومړی سره ترتیب د لنډی ایزو کې واړاندې او ورسته والې ورکړی دی او د لومړنی لنډی ایزې بېخباري یا تکراري لنډی ایزه پیلنی لنډی ایزه کړې ده. څلورمه مسره یې پوره شوې او د تکرار څخه یې لرې ساتلې ده.   همدا یې لومړی لنډی ایزه کړې، دریېمه لنډی ایزه یې دوبیمې لنډی ایزه ځای ته راوړې، دوبیمه لنډی ایزه یې دریېمې لنډی ایزې ځای ته راوړې، جانان پر ځای یې لیلا ته نوموېکی اړولی، لومړی لنډی ایزه یې څلورمې لنډی ایزې ځای ته راوړې چې په رښت کې بوځه ښځینه لارو ته منسوب کړی. په دوبیمه مسره کې یې د دریېمې مسرې ته وړی او هلته د بویه وی په ځای یې ریبار ته منسوب کړی دی. پاینی لنډی ایزه سره ورته ده او دواړو کې راغلې ده، تو پیر یې یوه دوبګړیو والی چې نسبت یې مندروړیو کلې اوسپدونکوته کېږي، د مندلې اړولی چې د یوه دوبګړیو والا ( ډولکې والا، دبله چې، طبله چې، دوې ګړیو وهونکی) نوم دی ورته منسوبه کړې ده. په دې بنه یې ځینې له ځنې وی او غونډ ته په کې بدلون ورکړی دی. بریالي صمدي سندرغاړي ښه په درز کې ویلې ده.

- لالیه وړاندې شه لار ګوره
- په نا لیدلو لار مې بوځه
- بل دې ریبار را سره بوله

وطن پردی دی چې غره نه شي مینه

- زما لالی دې ژوندی وینه
- که دی په هر وطن کې وینه

که مسافر د تور دکن وي رابه شینه

- جانانه ریشه په پالنګه

## د ایــزو خپرنـــچوپړي
( د ایزي ریسرچ پاڼي)

▲ یوه ځل مې کې نوه ترخنګه
▲ خشبوی دې خپرې د لونګه

مسته ویده ده لالی شال پې غوړوینه

▲ زما لالی دې ژوندی وینه
▲ که دی په هر وطن کې وینه

که مسافر د تور دکن وي رابه شینه

▲ علم تومت راباندې وایې
▲ داسې خو نه وایې چې خدایې
▲ غماز مې کوم طرفته بیایې

د تو متو راباندې و شو بارانونه
▲ زما لالی دې ژوندی وینه
▲ که دی په هر وطن کې وینه
که مسافر د تور دکن وي رابه شینه

▲ محمد نور شعر کې شو سلطانه
▲ واړه، واړه یې شاګردانه
▲ یمه توتې د کوهستانه

دا مندروړې په طبله دور غږوینه
▲ زما لالی دې ژوندی وینه
▲ که دی په هر وطن کې وینه

که مسافر د تور دکن وي رابه شینه

پوهندوی لال باچا ازمون په خپل خپور کړي کبنلي ,, د سیند غاړې ګلونه ،، کې د ولسي شاعر محمد نور شعري غونډ، چې د ( جنوري میاشت ۱۹۹۴ زیږدي کال یا د سلواغي میاشت ۱۳۷۲ لیږدي کال) د نومورې په زیار له چاپه سلامت تېر شوی دی، نومورې کبنلي کې په لاندې بنه کبنلي دي:

## د ایــزو ځپرنـــچوپړي
(د ایزې ریسرچ پانې)

▲ ،، زما لالی دې ژوندی وینه
▲ که دی په هر وطن کې وینه
▲ دی دې مدام خوشحاله وینه

که مسافر د تور دکن وي رابه شینه

▲ علم تومت راباندې وایي
▲ داسي خو نه وایي چې ښایي
▲ غماز مې کومې خواته بیایي

د تو متو راباندې و شو بارانونه

▲ لیلا ویده ده په پالنګه
▲ خوشبو یې خیږي د لونګه
▲ پیره داران یې دي ترخنګه

مسته ویده ده لالی شال پې غوړوینه

▲ لالیه وړاندې شه لار ګوره
▲ په نا لیدلې لار مې بوله
▲ بل دې ریبار ځان سره بوځه

وطن پردی دی چې غره نه شو مینه

▲ محمد نور شعر کې شو سلطانه
▲ واړه واړه یې شاګردانه
▲ یمه توتې د کوهستانه

دا مندلی په طبله دور غږوینه،،
(لال باچا، ۱۳۷۲ ل، ۶۱ چوپړی)

## ۹. ۵ خې (خ):. د دوبیمي روغي لاسته راغلي مصری ایزې لندمنګی پېخلیک

د دي لاندې مصری ایزي پېیلن سید باهو جان له آره سادات، د سید اشرف زوی، د سید سعد الدین لمسی، د لغمان ولایت، د الیشنګ سیمي د کلاچې په کلي کې په ۱۲۷۲ لېږدي کې زوکړه شوی او په ۱۳۲۲ لېږدي کې په ۵۰ کلنی کې وفات او د کندوز ولایت په چهل د ختران په ادېره کې خاورو ته سپارل شوی دی.

نومورې مصری ایزه یې په څلور څلوېښت کلنی کې کښلې دي، دا پښتو وګړنی پېیلي چې د منزلونو تر سرلیک لاندې ده په ۱۳۱۶ لېږدي کې کښلې شوي ده:

## ۹. ۵. ۱ خې (خ):. دا مصری ایزې په لاندې بنه لوری موږ ته په لاس را کوي لکه:

۱. لنډی ایزې له لنډی څخه رغښت مومي، ټپه ایزې له ټپې څخه، ټیکی ایزې له ټیکی څخه او مصری ایزې له مصری څخه.

۲. لنډی ایزې د لنډی پیلنی مسرې کاپي، ورته بنه، ورته ډول، پرمختګ شوی روغ کوښښ دی؛ ټپه ایزې د ټپې پیلنی مسرې کاپي، هم بنه، هم ډول پرمختګ شوی روغ کوښښ دی؛ ټیکی ایزې د ټیکی پیلنی مسرې کاپي، ورته بنه، ورته ډول، پرمختګ شوی روغ کوښښ دی او مصری ایزې د مصری پیلنی مسرې کاپي، ورته بنه، ورته ډول، پرمختګ شوی روغ کوښښ دی.

۳. پېنځمه کوشنی بنه د ایزو موږ ته په پوخ کې کوي چې درې سره لري.

٤. څومره والی د ایزو موږ ته په پوخ کې کوي چې پېنځه دانې دي. هر یوه یې درې مسرې چې لومړی او دوبیمه مسرې یې نهه څپېزه او دربیمه مسره یې دیارلس څپېزې دي. لومړی ایزه یې لنډی ایزه ده، د دې له پاره چې د لنډی ځانګړې ځانګېړنې او بېلونکي نخښې لري، پاتې ټولې څلور نورې یې مصری ایزې دي چې د مصری ځانګړې ځانګېړنې او بېلونکي نخښې لري. د دې له پاره مو د مصری ایزې په نامه و نوموله چې د نومورو ایزو ګڼه په کې ډېره

ده. دا ټولې مصرۍ ایزې پېنځه واړه سرو ته منسوبې دي یا د سرو له لورې
ویل شوي غونډلي دي یا اړوندې دي.

۵. ځینې زورنې یې لړه زورنه لري، ځینې یوه څه زیات، خو ټولیز پایخج یا پاینی
زورنه یې ترټولو پیاوړې راغلي او د مخنیو غونډلو بېلابېل اهنګونه د هماغې
وروستۍ غونډلې دربیمې مسرې تر سیورې لاندې کمزوري پاتې شوې. دا نو
یوازې په ساز، اواز کې څېرمه اهنګونه جوتوالی ( برجسته والی) مومي او له
ژبنې ډګره نور راوځي.

۶. د ایزه پېیلي پېنځګوني رغنده ټوکونه لکه: ژبه، تول، واند (خیال)، اند (فکر)
او ولوله ( احساس، عاطفه) په کې شتون لري.

۷. مصرۍ ایزه میچه د څپیزه او خجیزه ټولوالي ( Syllabic and Tonic
Measurement System ) یوه بنه او لاربنوده مخبېلګه ده. له ژبنې پلوه لږ
تر لږه درې یا زیاتې غونډلې را اخستي، خو هم یې څپې له ټاکلي شمېر نه‌ه؛
نه‌ه؛ دیارلسو څخه تیرۍ نه دی کړی او هم یې زورنې له ټاکلي شمېر څلورو
څخه تېرۍ نه دی کړی.

۸. مصرۍ ایزې پېیلن الله بخښلي سید باهو جان ټولې په ګډولې بنه یا اونګ بنه
جوړې کړې ( مصنوعي: دیسي، شلخي، ګډول، ترکیبي، یوه ځای کول: فیصله
کول: جوړول: صرف نظرکول ,, د جرم د مجازاتو څخه،، : موافقې ته رسېدل.
ګډ، د دوو یا ډېرو اجزاوو څخه جوړشوی. انګړ، غولی، احاطه شوی ځای،
جارګی، چمبړ: مرکب) یا ( Mixdesign, Synthetic or compound )
کښلي دي، هره یوه نوې ګډوله رغولې چې د نوې مصرۍ سکالو ځانګړنې،
نخښې او بېلوالی یې ځانته غوره کړی دی. هره یوه مسره یې په لیکه کړې یا
په لیکه برابرول (Alignment) شوې، د سکالو تسلسل ( continuity,
succession) سره لري او له مصرۍ یې څرګندېږي چې له نورو لرغونو
پښتني وګړني پېیلو څخه روغې ګډوله شوي نه دي.

۹. د دې ټپه ایزې پېیلن د سندرو لېوال و، ځېګ تن و، د لغمان یوه ښه نیک نومه
وګړی و چې ډېرې شعرونه یې په وګړني ادب پوښلي وو. د زهن د منزلونه
زېږنده یې د ژوند ربښت او پښتونواله مور ته پرېږدي.

- هغه موسم د ځوانۍ تېر شو
- ستا به په یاد وي او که هېر شو

چې بې خبر وې د دنیا له جنجالونه

- ږېره وهې چې زه الک یم
- یاني د ډېر جیداد ملک یم

نه دولتمند یې نه ځلمي کوي چلونه

- دغه دنیا لکه مورچل دی
- انسان په کې پټ شوی غل دی

مرګی کوتوال دی ورانوي دا مرچلونه

- دیواله اوس به دې چپه کړم
- تا به له ستونې نه خفه کړم

تانه پنا دي سینګار شوي اوربلونه

- راشه فقیر سید باهوجانه
- د عمر شمار واخله له مانه

په تا تېر شوي دي ځلور ځلوېښت کلونه ،،

( سید فقیر، ۱۳۹۳ ل ل کال، ۷۸چوپړي).

### ۹. ۶ دې (د):. د دربېمي روغې لاسته راغلي تپه ایزې لندمنګی پېښلیک

- زه به ترخو پورې ژړېږم
- په سره انګار باندې کړېږم
- لکه دموو په شان ویلېږم
- جانانه مرم نه پاتې کېږم

ته چې په ما باندې کوې داسې ظلمونه

- زه چې له تا ځنې جلا یم
- خوشالي نه شته په ژړا یم
- ځکه شپه ورځ په وا ویلا یم
- د کور او کلي د خندا یم

چې مو په یوه کلي کې نه شي دیدنونه

- اوښکې مې ځي لوند مې ګرېوان دی
- چې مې جدا رانه جانان دی
- افسوس افسوس ارمان، ارمان دی
- دا غم په سر د پري جان دی

بېلتون ظالم را باندې و کړه پساتونه

پري جان چې نومورې د محمد نور او سید بهایی جان د پېر د پښتو ژبې پیپلن و. په پورتنۍ درې پېنځه سره تپه ایزې یې په ۱/ ۱/ ۱۳۴۰ لېږدي ( ۱۹۶۱/۰۳/۲۱ زېږدي) نبته خپل کاله لغمان کې کښلې وې.

## ۹. ۷ دې (ډ):. لیکوال د پېر پیپلنو او پیپلنې ځینې روغې لاسته راغلې لندۍ ایزې، تپه ایزې، ټیکی ایزې او مصری ایزې لندمنګی پیخلیک

زما د کوشنیوالي بده، د کډوالۍ مل او وطنوال. د لغمان ولایت، د الېنګار ولسوالۍ، د حاجي کلا ژوندګړ، د اوستاد معلم صابر نیازیوال زوی، پیپلن او لیکوال عبدالصبور صابري نیازیوال په لاندېنۍ لومړۍ لندۍ ایزې، دوییمه تپه ایزه او درېیمه پېنځه سره مصرۍ ایزې په ۲۳/ ۱/ ۱۳۸۶ لېږدي ( ۲۰۰۷/۰۴/۱۲ زېږدي) نبته د زدکړیالۍ په پېر د ننګرهار پوهنتون ښوونې او روزنې پوهنځي کې کښلي وې.

### ۹. ۷. ۱ دې – اې (ډ - ا):. د عبدالصبور صابري نیازیوال یوه پېنځه سره لندۍ ایزه، یوه پېنځه سره تپه ایزه او یوه پېنځه سره مصرۍ ایزې

- زما په متو باندې دې جوړه
- نه شمېرم ځان ډک له پيغوره
- په هر دښمن به دې رانوره
- دغه نعره مې تل په زوره

وطنه ستا په خاوره سر تلې کې ږدمه

- په دوارو سترګو مې ليدلی
- دوست او دښمن مې پيژندلی
- توپير مې دوارو کې کولی
- لـه ډېره درد مې څه ويلی

چا مې په خوله او سترګو ايښي دي لاسونه

- څه يې له تاسو نه تعبير دی
- هغه دښمن مې نور په وير دی
- پروت يې په غاړه کې ځنځير دی
- هغه ازاد نه دی اسير دی

چا چې په ګران افغانستان کړي ظلمونه

سرليکې را اخلم چې په افغانستان د افغانانو ټاټوبی اوبپانه يا ټاټوبی ټکی کام ،،www.tatobay.com،، يې په برېښليک بڼه خپرې کړې وې. په دغه وخت يوه تن ليدلې وې چې مطيع الله تابع يوه ترکيبي لنډۍ په ۲۱-۰۲-۲۰۰۹ کې خپره کړې وه؛ له جلاله! وړاندې محمد سور ،، وکيلي،، سر ليکه کړې ده چې د ترې غوښتې وه؛ بيا جلال دی؛ بيا وار په وار نبيله غزل اووه دانې ټپه ايزې له جلال اباد څخه خپرې کړې وې په ۱۶:۱۷:۱۰ ۱۰-۱۱-۲۰۰۹ او بيا يې سم له واره ورپسې اته دقيقې او څلور ثانيې ورسته په ۱۶:۲۵:۵۰ ۱۰-۱۱-۲۰۰۹ نورې شيږ دانې چې پېښور کې کښلې وې خپرې کړې؛ سيد عبدالله نظامي کونړي له اسداباد څخه په دې ۱۸:۲۳ ۲۰-۱۱-۲۰۰۹ پېخليک ټپه ايزې؛ ايمن شاهين يوه ۳۴ څپېيزه پيبلې يا ازاده پيبله ۱۰:۳۱ ۲۱,۱۱,۲۰۰۹ ؛ بيا حقمل مسعود زی چې بختيار ځدراڼ ورته خپرې کړې وې ټولې ۷ دانې، په ۲۰:۱۰ ۲۰-۱۱-۲۰۱۰ ليږدي کې چې ما تر لاسه کړې.

له حقمل مسعود زي څخه وړاندې عاشق الله فرياد دوې ټپه ايزې، يوه مصرۍ ايزه او دوې پينځه سره لنډۍ ايزې په ۱۰/ ۲/ ۱۳۸۹ لېږدي ( ۲۰۱۰/۰۴/۳۰ زېږدي) کې کښلي دي؛ بيا اسرار اتل يوه دانه چې زېږ مازديګر په پېښور کې دی ليکي له ۱۶۸ چوپړي کې ده او د مينه مهالنۍ ( مينه مجله) په ۵۳ ګڼه او ۹ چوپړي کې هم شتون لري کښلې ده؛ بيا زما د افغان ادبي بهير ملګري او زما وطندار محمد اسمعيل اړم پتيار چې نومورې ديار لس دانې پينځه سره لنډۍ ايزې په خپل ګران ټاټوبي کې په ۲۰۱۱/۱۱/۲۳ زېږدي يا ۱۳۹۰/۱۰/۰۲ لېږدي کې کښلې وې او محمد عزيز تحريک په ۱۳۹۰ لېږدي، ۶۴ چوپړي کې خپرې کړې دي؛ بيا صاديق عيبي سپره انکۍ ايزې ( عيبي سپره انکۍ ) پينځه داني کښلي دي؛ بيا ليکوال درې سپره لنډۍ ايزې، يوه سپره مصرۍ ايزه، يوه شپږ سره، يوه پينځه سره ټپه ايزه، يوه درې سره مصرۍ ايزه او يوه اتلس سره لنډۍ ايزه کښلې ده؛ بيا مطيع الله تراب اووه پينځه سره لنډۍ ايزې په ۱۳۹۹ لېږدي ( ۲۰۲۱ زېږدي) نېټه کې کښلې دي او بيا مونير بونيري يوه پينځه سره ټپه ايزه په ۱۴۰۰ لېږدي (۲۰۲۲ زېږدي) نېټه کې کښلې ده. د دوی ټولو وار، وار په لاندې بڼه دی او د پېځليک وار سره لري.

## ۹. ۷. ۲ ترکيبي لنډۍ ايزې، ترکيبي ټپه ايزې، ترکيبي ټيکۍ ايزې او مصرۍ ايزې په لاندې بڼه لوری موږ ته په لاس را کوي لکه:

د درانه! مطيع الله تابع، جلال امرخيل، محمد سور وکيلي، ترکيبي لنډۍ، ټپې او مصرۍ دي چې په پنځې بڼه نه په شلخې بڼه يې جوړې کړې دي. د لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ اوږدې يا پينۍ مسرې تکرار څخه يې رغښت ور کړی.
ډېری يې سره په پښبله ( کافيه ) او لړ ( رديف) روغي بوږېدلي دي. په منځ کې يې ترکيبي لنډۍ، ترکيبي ټپې، ترکيبي مصرۍ شتون لري خو ترکيبي ټيکۍ په کې شتون نه لري.

د پښتو نومورې ګړنې پيېلې تر ډېره پورې زه په ترکيبي لنډۍ ايزې، ترکيبي ټپه ايزې، ترکيبي ټيکۍ ايزې او مصرۍ ايزې باندې نوم وم او نومړو پړاونو باندې يې وېشم.
بل لورې ته که په ورته بڼه نوی پښتون پښت داسې بڼه ايزه و کښي او يا و وايي چې د لنډۍ، ټپې، ټيکۍ، مصرۍ کوشنۍ مسره ( لومړۍ مسره، پيلنۍ مسره، يا لومړۍ نيم بند، پيلنۍ نيم بند يا لومړۍ کړۍ، پيلنۍ کړۍ) و کښي او يا و وايي؛ وروستي ځوداني اوږدې مسرې ( دوبيمي مسرې، پاينۍ مسرې) و کښي او يا و وايي؛ د ځانګړو ځانګېړنو له پېژند څخه يې ګستې لنډۍ ايزې، ګستې ټپې ايزې، ګستې ټيکۍ ايزې، ګستې مصرۍ ايزې باندې نوم وم او نومړو پړاونو باندې يې وېشم.
د نومړو کښلې په لاندې بڼه له روغې شوې بڼې سره کښم.

## ۹. ۷. ۲. ۱ دي – بې (د - ب):. د مطیع الله تابع یوه ترکیبي لنډۍ ایزه او دوې مصری ایزې

▲ خدای دې زما کړه غونډې منډې

د بادار ځمکه به کرم تا به ساتمه
په ځان به شپه ورځ یوه کوم تا به ساتمه
لنډۍ کچر به چلوم تا به ساتمه
په سر به غټې پنډې وړم تا به ساتمه

▲ مسلماني په چا کې نه شته

په لندو لښتو مې وهي ما ژړوینه
د لاس بنګړي مې خرخوي ما ژړوینه
د زړګي کور مې ورانوي ما ژړوینه
جانان له ما جدا کوي ما ژړوینه

▲ نن مې جانان لیدلی نه دی

لکه د بنګو پیاله غرقه ناسته یمه
چې ژړا راشي د وررور غم بانه کومه
لکه بابنه لوړې ژورې لټومه
په دیواله ښپیاکې ګډې وډې بړدمه

د مطیع الله تابع یوه پېنځه سره ترکیبي لنډۍ ایزه او دوې پېنځه سره ترکیبي مصرۍ ایزې تولې په ګډولې بڼه یا اونګ بڼه جوړې کړې ( مصنوعي: دیسي، شلخي، ګډول، ترکیبي، یوه ځای کول: فیصله کول: جوړول: صرف نظرکول ,, د جرم د مجازاتو څخه،، : موافقې ته رسېدل. ګډ، د دوو یا ډېرو اجزاوو څخه جوړشوی. انګړ، غولی، احاطه شوی ځای، جارګی، چمبړ: مرکب) یا ( Mixdesign, Synthetic or compound ) کښلې دي، هره یوه نوې ګډوله رغولې چې د نوې لنډۍ او مصرۍ سکالو ځانګړنې، نخښې او بېلوالی یې ځانته غوره کړی دی. هره یوه مسره یې په لیکه کړې یا په لیکه برابرول (Alignment) شوې، د سکالو تسلسل (continuity, succession) سره لري. له پیلنی لنډۍ، دوېیمې او درېیمې مصرۍ یې څرګندېږي چې له نورو لرغونو پښتني وګړني پېیلو څخه روغې ګډوله شوې دي. دا به داسې ښکارېږي چې پنځې , طبیعي، نه دې او مصنوعي , دیسي او شلخي، دي.
لنډۍ ایزه یې نرانو ته منسوبه ده او مصرۍ ایزې یې ښځو ته منسوبې دي.

## ۹. ۷. ۲. ۲ دي – پي (ډ - پ):. د جلال امرخیل درې ترکیبي لنډۍ ایزې او یوه تپه ایزه

▲ وړوکی نه یې چې شرمېږې
که ته شرمېږې لاس به زه درواچومه
په جار نعرې کړه چې مین دربانډې یمه

▲ اول به کله، کله غم و
اوس مې دوتر شو کروندې په کې کومه
اوس مې کتاب شو مشغولا په کې کومه

▲ حسن دې ورځ په ورځ زیاتېږي
زکات یې باسه ګناه کار به شي مینه
لکه چې سیند د پشکال زیاتی کوینه

▲ ماته په لپه اوبه را کړه
زه تږی نه یمه ستا نیت معلوممه
چې په پستو لاسو دې خوله و لړومه

د جلال امرخیل پیلنی، دریيمه، څلورمه دوې سره ترکیبي لنډۍ ایزې او دوېیمه دوې سره ترکیبي تپه ایزه توله په ګډولې بنه یا اونګ بنه جوړه کړې ( مصنوعي: دیسي، شلخي، ګډول، ترکیبي، یوه ځای کول: فیصله کول: جوړول: صرف نظرکول ,, د جرم د مجازاتو څخه،، : موافقې ته رسېدل. ګډ، د دوو یا ډېرو اجزاوو څخه جوړشوی. انګړ، غولی، احاطه شوی ځاي ، جارګی، چمبر: مرکب) یا ( Mixdesign, Synthetic or compound ) کښلې دي. هره یوه نوې ګډوله رغولې چې د نوې لنډۍ او تپې سکالو ځانګړنې، نخښې او بېلوالی یې ځانته غوره کړې دی. هره یوه مسره یې په لیکه کړې یا په لیکه برابرول (Alignment) شوې، د سکالو تسلسل (continuity, succession) سره لرې، له پیلنی لنډۍ، دریيمه، څلورمه او دوېیمې تپې یې څرګندېږي چې له نورو لرغونو پښتني وګړني پېیلو څخه روغې ګډوله شوې دي. دا به داسې ښکارېږي چې پنځې , طبیعي، نه دي او مصنوعي, دیسي او شلخې، دي.
پیلنی لنډۍ ایزه یې ښځو ته منسوبه ده، دوېیمه تپه ایزه، دریيمه او څلورمه لنډۍ ایزه یې نرانو ته منسوبې دي.

## ۹. ۷. ۲. ۳ دې – تې (ډ - ت):. د محمد سرور وکیلي یوه ترکیبي لنډۍ ایزه

▲ خدای دې زما کړه غونډې منډې

زه به هندو ته کارته ځم تابه ساتمه
زه دې د پلار نوکري کړم تابه ساتمه
لکه ګل د شنو باغچو تابه ساتمه
لکه بلبل چې پر ګل ناز کا داسې دې ساتمه

د محمد سور ,, وکیلي ،، راټوله کړې او جوړه کړې لنډۍ ایزه کټ مټ د مطیع الله ,, تابع ،، پیلنۍ لنډۍ ایزې ورته بڼې روغ پرمختګ شوی کوښښ دی.

## ۹. ۷. ۲. ۴ دې – تې (ډ - ټ):. د نبیله غزل دیارلس ټپه ایزې

▲ ,, زما په برخه به خوارې وی
▲ کاشکې چې ته زما په خوله
▲ تل به مې سترګو کې ویده وی
▲ که مې نصیب د بدو نه وی

په شین کبل به مې منګی نه ماتېدنه

▲ ورکه به توره بلا نه شي
▲ د بېلتون شپه به سبا نه شي
▲ نور په زیارت او ملا نه شي
▲ مرور یار به پوخلا نه شي

که وچې ونې زرغونه په اوښکو کړمه

▲ د زړه په رنځ چې اخته نه شي
▲ ای په خندا مې دوکه نه شي
▲ پام کوه ځان ته غره نه شي
▲ تپوس کوم چې خفه نه شي

پته دې راکړه چې چیټۍ درواستومه

▲ څه په مزه راپسې کوږ شوي
▲ په تماشه راپسې کوږ شوي
▲ شېبه، شېبه راپسې کوږ شوي
▲ لکه زاويه راپسې کوږ شوي
زه به له قصده موازي درسره ځمه
▲ څه په خوارۍ دې چېلم پرېښود
▲ چې په پيرۍ دې چېلم پرېښود
▲ د مرګ په ژۍ دې چيلم پرېښود
▲ په ساه لنډۍ دې چېلم پرېښود
زما د سپيني خولې دې نه منل سوالونه

▲ د خامکي رومال له پاره
▲ د ګلابي رومال له پاره
▲ د زرزري رومال له پاره
▲ د کابلي رومال له پاره
زه به ياري له درانو سره کومه

▲ يا د تاکنو مرحلې دي
▲ يا د رياضياتو معادلې دي
▲ تولې زړه چاودې معاملې دي
▲ د ياراني شل کشالې دي
شل ځل به مړه يم چې يوه، يوه پوره کومه
(د نبيلي غزل تپه ايزې، جلال اباد ښار څخه په ۱۰:۱۷:۱٦ ۱۰-۱۱-۲۰۰۹)

▲ ,, سره مرچکي به مې رانجه کړم
▲ چړې به خښې په خپل زړه کړم
▲ په پنجابي به ځان واده کړم

▲ د کاکا زوی به مې و نه کړم
چېړې به ما ورته لالا ویلي وینه

▲ په نري رنځ واوړې ناجوړ شې
▲ چېه کاکل دې سپین شه، زوړ شې
▲ په تورو خاورو باندې موړ شې
▲ په ابشېدلي ګولی سوړ شې
ما ته دې تول عمر دروغ ویلي دینه

▲ کړمه تلوار د راتلو ورځ ده
▲ ښارمه لار د راتلو ورځ ده
▲ د نوبهار د راتلو ورځ ده
▲ نن مې دیار د راتلو ورځ ده
د چرګ په ځای به ورته ځان حلالومه

▲ ساه مې بیا لنده، لنده کیږي
▲ چې کوم قیامت رانازلیږي؟
▲ خدایه د زړه درد مې زیاتیږي
▲ ګلاب چې مړاوی شي وچیږي
سترګې چې مړاوې شي دنیا تباه کوینه

▲ ځان دې په توره بلا ګېر کړ
▲ په خپل ژوندون دې اور چاپېر کړ
▲ ګل پېښور دې له زړه هېر کړ
▲ سپرلی دې پاس په کابل تېر کړ
په ژمي راغلې سلامت غواړې ګلونه

## د ایـــزو څیړنـــچوپړي
## ( د ایزي ریسرچ پاڼي)

,, زما مورنۍ نیا زالقایده (کوکۍ) ناروغه وه، کله یې چې دوېیم زوی له کابل ښخه منجلام، پړوایي، الینګار لغمان ته په ۱۹۹۰ زیږدي کې راغلی و. هغې خپل زوی ته دا لرغوني ټپه ویلې وه:

- اوړی دې پاس کابل کې تېر که
په ژمي راغلې سلامت غواړې خالونه ،،

- اوزګار، اوزګار چې ګرځېدلي
- سترګې دې هم نه شرمېدلي
- زړه مې بنېرې درته کولي
- شولې دې ولې نه کرلي
سږنۍ کال مې د واده و تېر به شینه ،،

(د نبیلې غزل ټپه ایزې، چې پیښور کې یې کښلې وې او په دې پېخلیک یې له ننګرهار ښخه خپرې کړې ۱۶:۲۵:۵۰ ۱۰-۱۱-۲۰۰۹ )

د نبیله غزل دیارلس داني پینځه سره ټپه ایزې تولې په ګډولې بڼه یا اونګ بڼه جوړې کړې ( مصنوعي: دیسي، شلخي، ګډول، ترکیبي، یوه ځای کول: فیصله کول: جوړول: صرف نظرکول ,, د جرم د مجازاتو ښخه،، : موافقي ته رسېدل. ګډ، د دوو یا ډېرو اجزاوو ښخه جوړشوی. انګړ، غولی، احاطه شوی ځاي ، جارګی، چمبړ: مرکب) یا ( Mixdesign, Synthetic or compound ) کښلې دي.
هره یوه نوې ګډوله رغولې چې د نوې ټپې سکالو ځانګړني، نخښې او بېلوالی یې ځانته غوره کړی دی. هره یوه مسره یې په لیکه کړې یا په لیکه برابرول (Alignment) شوې، د سکالو تسلسل (continuity, succession) سره لړې او له ټپې یې څرګندیږي چې له نورو لرغونو پښتني وګړني پیېلو ښخه روغې ګډوله شوي دي.
دا به داسې ښکارېږي چې پنځې , طبیعي، نه دي او مصنوعي, دیسي او شلخي، دي.

دیارلس واړه ټپه ایزې یې ښځو ته منسوبې دي یا د ښځو له لورې ویل شوې دي. بل لورې ته له ځینو ټپه ایزو یې څرګندیږي چې نوموړې د ټپه ایزې یوه پښتنه پیېلنه ده.

## ۹. ۷. ۲. ۵ دې – جي (ډ - ج):. د سيد عبدالله نظامي اووه ټپه ایزې

▲ ,, د يار غمونه تول په زړه وړم
▲ زه يې په سترګو کې خوارږه وړم
▲ کله به بد کله به ښه وړم
▲ زما قبول دی که هر څه وړم
▲ په سر نرۍ لوپټه نه وړم
درني، درني خبرې ستا د دادا وړمه

▲ د دېواله په سر ولاړې
▲ سترګې دې سرې دي ولې ژاړې
▲ په تور ټيکري کې ځان رانغاړې
▲ اوس لټوه راپسې شاړې
▲ کډې مې تورو غرو ته لاړې
راپسې ژاړې ستا د کلي چناورنه

▲ اوس رانه هېر نن او پرون دی
▲ سر مې خپل ایښی په زنګون دی
▲ دا څه سپېره، سپېره ژوندون دی
▲ کړی مې غم سره ترون دی
▲ که زه خبر وی چې بېلتون دی
ما به د يار سترګو ته ډېر کتلي و نه

▲ خدای مې ليدلی خوب رښتيا که
▲ تا مې زړګی تالاوالا که
▲ وايه په څه بانه دې غلا که

▲ له بې وسی مي ځان رسوا كه
▲ كه داسې بل ګذار دي راكه
د زړه په وينو به مې رنګ كړې ديوالونه ،،

(د سيد عبدالله نظامي تپه ايزې دي چې په چغسرای ,, اسد اباد ،، كونړ كې يې په ۱۸:۲۳، ۲۰-۱۱-۲۰۰۹ دې تاريخ كښلې دي.)

د سيد عبدالله نظامي اووه داني شپږ سره تپه ايزې تولې په ګډولې بڼه يا اونګ بڼه جوړې كړې ( مصنوعي: ديسي، شلخي، ګډول، تركيبي، يوه ځای كول: فيصله كول: جوړول: صرف نظركول ,, د جرم د مجازاتو څخه،، : موافقي ته رسېدل. ګډ، د دوو يا ډېرو اجزاوو څخه جوړشوی. انګړ، غولی، احاطه شوی ځاي ، جارګی، چمبړ: مركب) يا ( Mixdesign, Synthetic or compound ) كښلې دي. هره يوه نوې ګډوله رغولې چې د تپې سكالو ځانګړنې، نخښې او بېلوالی يې ځانته غوره كړی دی. هره يوه مسره يې په ليكه كړې يا په ليكه برابرول (Alignment) شوې، د سكالو تسلسل (continuity, succession) سره لري او له تپې يې ځرګندېږي چې له نورو لرغونو پښتني وګړني پيېلو څخه روغې ګډوله شوې دي. دا به داسې ښكارېږي چې پنځې , طبيعي، نه دي او مصنوعي, ديسي او شلخي، دي.
اووه واړه تپه ايزې يې نرانو ته منسوبې دي يا د نارينه وو له لورې ويل شوې دي. بل لورې ته له ځينو تپه ايزو يې ځرګندېږي چې نوموړی د تپه ايزې يوه پښتون پيېلن دی.

## ۹. ۷. ۲. ۶ دې – چې (ډ - چ):. د ايمن شاهين سپينه لنډۍ ايزه

۳۴ ځپيزه سپينه پيېله يا ازاده لنډۍ ايزه. نوموړې پيېلنې د پورتنی تپه ايزې په تاسير كې كښلې ده چې درې پارنويكي های!؛ های!؛ های! يې په كې كارولې دي د ازاد شبر په بڼه:

▲ های! های! های! نظامي جانه! دومره غوصه! خدای دې ستا نازولې ته هدايت و كړي چې نور دې نه ازاروينه.

ايمن شاهين ۱۰:۳۱ ۲۱,۱۱,۲۰۰۹

,, دا يوه ۳۴ ځپيزه پيېلې يا ازاد پيېلی ( ازاد شعر، نوی اشلوک) دی.،،

### ۹. ۷. ۲. ۷ ډې – څې (ډ - څ):. د عاشق الله فریاد لومړی او دوېیمه پېنځه سره تپه ایزې، دریېمه پېنځه سره مصری ایزه، ځلورمه او پېنځمه پېنځه سره لنډی ایزې

- را باندې بل د مینې اور دی
- رنگ ته مې گوره سوی سکور دی
- غم او هیبت را باندې زور دی
- بېلتون زما سکنی ورور دی

په میراثه کې رانه یار جدا کوینه

- ولې دې زه دومره ازار کړم
- د کس نا کس دې منت بار کړم
- له ژوندانه، نه دې بې زار کړم
- بېلتونه خوار شې زه دې خوار کړم

نه مې جانان شته نه په مرگ وریسې مرمه

- اصیل اشنا د سرو دولت وي
- تل ډک له مینې محبت وي
- په بې وفا وو دې لعنت وي
- بېلتون پرې هسې ملامت وي

کم اصل یار د سرې پرې کړې اندامونه

- خولې ته راغلی مې نفس دی
- له مانه پاتې هر هوس دی
- زور او زیاتی همدومره بس دی
- دا خو د تا د یاری تس دی

په مازدیگر مې کډه بار له ملکه ځمه

- زلفې خورې دانه، دانه کړه
- سینګار دې جوړ په سامانه کړه
- فریاد خپل ځانته نذرانه کړه
- وربل دې یوې خواته شانه کړه

ورو ځي ښکاره کړه نرۍ میاشت را یادوینه

زما د افغان ادبي بهیر مل او وطنوال، د لغمان سرغندوی پیپلن او لیکوال. اوستاد عاشق الله فریاد په پورتنۍ لومړۍ او دوېیمه ټپه ایزې، درېیمه یوه مصرۍ ایزه، څلورمه او پېنځمه پېنځه سره لنډۍ ایزې په ۱۰/ ۲/ ۱۳۸۹ لیږدي ( ۲۰۱۰/۰۴/۳۰ زیږدي) نېټه خپل کاله یکتوت د کابل کې کښلي دي.

## ۹. ۷. ۲. ۸ دې – ځي (ډ - خ):. د حقمل مسعودزي څلور پېنځه سره ټپه ایزې

- ,, له دغو خلکو ډار په کار دی
- هر څوك مطلبه پورې یار دی
- خپل او پردی راته اغیار دی
- زړه ته په خپله ډاډ په کار دی

په دې دوس کلي کې نه شته ډاډ ګېرنه

- روح مې وتلی دی له تنه
- غم تېروم په زړه د ننه
- په شته وطن شوم بې وطنه
- له ما نه پاتې شوې وطنه

که کاڼي بوټي دې لونګ شي بوی یې ځینه

▲ هر يوه سړی مې طلبګار و
▲ که به غريب و که مالدار و
▲ زما د وېصل اېنتيظار و
▲ چې مې د تورو څنو وار و
د چا به کار و چا به هسې غړ کونه

▲ په لوېشتو دوې لوېشتې دې نوم دی
▲ تن د سړې خوی دې ماشوم دی
▲ په تا هم پروت د سړې نوم دی
▲ ايمان دې ښه راته معلوم دی
ابې دې هسې د نرتوب کيسې کوينه،،

( په دې دوس کلي کې نه شته ډاډ ګېرنه؛ تر سرليک لاندې د حقمل مسعود زی ټپه ايزې دې چې بختيار ځدراڼ ورته په ۲۰. ۱۱. ۲۰۱۰ لېږدې کې خپرې کړې دې.)

## ۹. ۷. ۲. ۹ دې – خې (ډ - خ):. د اسرار اتل پېښځه سره ټپه ايزه

▲ ,, سترې چې ستا په اېنتېزار شم
▲ درد شمه کړېکه شم پرهار شم
▲ د ځانه ورک شمه ستا يار شم
▲ د کابل سينده له تا ځار شم
د شاه ليلا د خولې کنګال درکې راځينه ،،

( اسرار اتل يوه دانه چې زېړ مازديګر په پېښور کې دی ليکي له ۱۶۸ چوېري کې شتون لري او د مينه مهالنی ( مينه مجله) په ۵۳ ګڼه او ۹ چوېري کې هم شتون لري.)

## ۹. ۷. ۲. ۱۰  دې – دي (ډ - د):. زما د افغان ادبي بهير ملګري او زما وطندار محمد اسمعيل اړم پتيار ديارلس داني پېنځه سره لندی ايزې

زما د افغان ادبي بهير ملګري او زما وطندار محمد اسمعيل اړم پتيار چې يوه خلوربزه ما ( ليکول) ورته په ډالی بوږولې وه، د ده تته ستاينه مې پته کړې وه خپل ټاټوبې ته چې سرليک يې و.

پتيار ستاى

اړم غوندې اړمه شئ وګړيو درناوې ته
پرلغښتی روغناوی مل پېيرن نګېرني ته

ناپايه پټ توان يې په واند اندکي اوب
پاتوړی د روان سيند بولن ورهنيزي ته

د نوموړې ديار لس داني پېنځه سره لنډی ايزې دي چې په خپل ګران ټاټوبي کې يې په ۲۰۱۱/۱۱/۲۳ زيږدي يا ۱۳۹۰/۱۰/۰۲ لېږدي کې کښلې وې، په لاندې ډول دي:.

- ,, چې غلا يې و کړله اوس خان دی
- ډک له مردارو يې دسترخوان دی
- څوک وايي غلا کې چې تاوان دی؟
- کافر خو نه دی، مسلمان دی!

که ګناهکار دی بیا به و کړي څو حجونه

- زموږ د سيمې قومندانه
- په غلا او چور کې قهرمانه
- د، د پوره شو تول ارمانه
- خاين مشهور شو په جهانه

په ګوتو شمار غله يې عکسونه ګرځوينه

- اورم چې لور دې شوه ډاکټره
- یوه دې بله اېنجینره
- په ,,واین جي او،، کې سکرتره
- دا درته ښه ښکاري بهتره

هغه وخت یاد کړه، سوځول دي مکتبونه

- بچی دې چاته کتی نه شي
- له ډاره کور نه وتی نه شي
- آزاد هېڅ ځای ګرځېدی نه شي
- پام پرې کوه چې پردی نه شي

په مشاور به ورانوي پردي کورونه

- حاجي صیب حج دي مبارک شه
- هم مبارک دې دا شهرک شه
- په باډیګارډ دې لړ څه برګ شه!
- په قار په دې رذیل بدرګ شه

د خیانتونو دې وی! هر چاته حالونه

- زما په دغه سپي باور دی
- سور د لېوه په شان زړه ور دی
- جنګ يې اخستی په خپل سر دی
- دا نو له کوم سپي نه بدتر دی

که غاپي نه لکی خو چنګه ګرځوینه

- زما په خرو کې یوه شین خر دی
- دا مې له ټولو خرو بدتر دی
- په خوله مې نه دی، په خپل سر دی

▲ زخمي، زخمي مې ترې تېر دی
چې باروم يې تل لغتې واروينه

▲ ګورئ د نورو ګوډاګی دی
▲ پرې مه غولېږئ دا پردی دی
▲ دا د ډالرو ليونی دی
▲ سړی په رنګ کله سړی دی
سړی هغه دی چې يې خوی د سړي وينه

▲ چې ګرځیدم د غرونو سر کې
▲ ما به جهاد کاو لر او بر کې
▲ نه په برات وم، نه اختر کې
▲ خود به زه ګرځم لنډکروزر کې
ما داسې ژوند ته لټول د غره سرونه

▲ زما يې څه په شهیدانو
▲ په کنډو رنډو يتیمانو
▲ په ورو، ترو مظلومانو
▲ د دې وطن په افغانانو
حس غمکش یم چې يې زه خورمه غمونه

▲ یوه خوا شمله، بل خوا پکول شو
▲ چين میدان په کې راتول شو
▲ مسابقه کې نول په نول شو
▲ توپ د پکول شمله کې ګول شو
قره قولی په کې ريفري ده میدان وړينه

- څوک په ګودر کړي دیدنونه
- زه په دفتر کړم دیدنونه
- څوک مازیګر کړي دیدنونه
- زه په سحر کړم دیدنونه

په سکرتره مې دی جنګ د چا به شینه؟

- چې په قدرت یوه، نیم پمن شو
- کباړ، کباړ مې ګران وطن شو
- بلبل بورا ورک له ګلشن شو
- کارغی تولواک د دې چمن شو

دا چې واغ، واغ کوي مرداري لټوینه،،
( محمد عزیز، ۱۳۹۰ لیږدی، ۶۴ چوپړی )

## ۹. ۷. ۲. ۱۱ دې – ډې (ډ - د).: مطیع الله تراب لنډۍ ایزې

- پر اوبو لو لښکرې راغلې
- په جوش خولو لښکرې راغلې
- په ولولو لښکرې راغلې
- که د خالو لښکرې راغلې

زه به ګومل ته د خپل یار دیدن ته ځمه

- دوعا کوه چې ستا په لار شم
- څه د کار څېر به دې په کار شم
- تا سره کر ځم چې هوښیار شم
- ستا له سرپوخ توپکه ځار شم

په اوږه ستا دی کړه زه له خیاله ځمه

**د ایـــزو څېړنـــچوپړي**
( د ایزې ریسرچ پانې)

▲ ملالې زر په وطن کېښود
▲ ایوب لښکر په وطن کېښود
▲ ما داسې نر په وطن کېښود
▲ جانان مې سر په وطن کېښود

په تار د زلفو به کفن ورله ګنډمه

▲ ځم لوی ابدال راوېښومه
▲ کنه خوشحال را وېښومه
▲ یا سید جمال را وېښومه
▲ عمرې خیال را وېښومه

ځلمو د ړېړو سره و خرپیل بریتونه

▲ محمد جان خان غازي وردګ دی
▲ د ننګراریو ځلمو ځواک دی
▲ موږ پر شاه نه ځو پرمختګ دی
▲ پر ګوشته بیا د قاسم غږ دی

د غزا ډول دی ملا تړلي ځلمي ځینه

▲ ای!؛ مرې خو په لار د پیغور نه ځي
▲ دی خپل تاریخ ته مخ تور نه ځي
▲ شور کوه مری په شور نه ځي
▲ پښتون جنت ته په زور نه ځي

خو په رضا تر دوزخو در سره ځینه

- اوده له ویخه ګټه نه ده کړې
- غوبنې له سیخه ګټه نه ده کړې
- ما له سر پیخه ګټه نه ده کړې
- تا له تاریخه ګټه نه ده کړې

بیا په تورخم را سره مه اچوه لاسونه

مطیع الله تراب پورتنۍ اووه پینځه سره لنډۍ ایزې په ۱۳۹۹ لیږدي ( ۲۰۲۱ زیږدي) نیټه کې کښلې دي. پیلنۍ درې یې شلخي دي او له نورو پښتني وګړني پیپلو رغول شوې دي.

## ۹. ۷. ۲. ۱۲ ډې – رې (ډ - ر): مونیر بونیري یوه پینځه سره تپه ایزې

- د غم د غبت کمر د لاندې
- ژوند ویر ماتم او ځاندې، ځاندې
- عشقه جوړ ته را پورې خاندې
- د بیلتانه احسان راباندې

ما د لالي په کدر رو، رو پوهه وینه

مونیر بونیري دا پینځه سره تپه ایزه په ۱۴۰۰ لیږدي (۲۰۲۲ زیږدي) نیټه کې کښلې ده.

## ۱۰.   رې (ر):. عیبي سپره انکۍ ایزه ( عیبي سپره انکۍ ):.

عیبي سپره انکۍ ایزه کې ګڼ شمېر پنبلې شتون لري، په دې ډول عیبی سپره انکۍ ایزه کې د پیلنی مسرې اوږدوالی او لنډوالی شتون لري، خو پیلنی مسرې له اوږد والي او لنډوالي سره یې تر پایه هره مسره له غونډونو او ویکیو رغېدلی برابر والی لري. بل لورې ته د لنډکی پیبلې سره هم بېلوالی لري.

د مسرو شمېر یې ۳، د څپو شمېر یې ۹، هې (ه) یې د پنبلې توری دی. هره مسره یې د لنډۍ، ټپې، ټیکی او مصرۍ له لومړۍ مسرې (پیلنی مسرې، اولې مسرې) سره برابر او ورته وي. خو د لنډکی د څپو شمېر بیا ۱۳ څپې وي. له انکی (چغیان) پیبلې سره هم بېلوالی لري. د مسرو شمېر یې ۳، د څپو شمېر یې ۹، هې (ه) یې د قافیې توری او هره مسره یې د لنډۍ، ټپې، ټیکی او مصرۍ له لومړۍ مسرې ( پیلنی مسرې، اولې مسرې) سره برابر او ورته وي. خو د انکی د مسرو شمېر یې بیا ۴ وي.

عیبی سپره انکۍ ایزه؛ د لنډۍ، ټپې، ټیکی او مصرۍ له منځې څخه رغښت مومې، نوموړې د انکی، لنډکی تر منځ یوه پوله ده؛ په تولهکې یوه عیبي سپره انکی یا عیبی سپره انکی ایزه ۲۷ څپې لري، هره مسره یې ۹ څپې او د مسرو شمېر یې ۳ وي.

▲ یوه ګېله زما په زړه ده؛
▲ په څه ده؛ دا بنه ده؛ که نه ده؛
▲ خو زه تانه به یې کومه

▲ زما د یار سینه باغچه ده؛
▲ کچه ده؛ سوچه ده؛ سمتره ده؛
▲ سر او مال پرې دو کومه

▲ زما جانان زما په نوم دی؛
▲ ماشوم دی؛ معلوم دی، ډېر شوم دی؛
▲ ما ته دیدن نه را کوینه

- روانه خنګه په نخرو ده ؛
- لیلو ده؛ ښارو ده؛ په رو ده؛
- په نازه اخلې قدمونه

- زه د دلبر په نوم عاشق یم؛
- صادیق یم؛ لایق یم؛ موافق یم؛
- منافق به ترې شرمه

## ۱۱. ړي (ړ):. سپره ایزه:.

سپره ایزه هغه پېيله ده چې په کې ګڼ شمېر پښېلې شتون لري، په دې ډول سپره ایزه کې د پیلنی مسرې اوږدوالی او لنډوالی شتون لري، خو پیلنی مسرې له اوږد والي او لنډوالي سره يې تر پایه هره مسره له غونډونو او ویکیو رغېدلی برابر والی لري.

د پښتو ژبې د ځېېز خجيز ټولوالي په سته اړين د ویکي او غونډ په څلورګونو ځپو څخه په هره یوه ځپه باندې تر پایه پوري ورته. په لومړی یا دوپیمه، درېیمه یا څلورمه ځپه زورنه راغلي وي.
لیکوال په کې له ورته پښېله يې ستاین نوم، غونډ څخه په مسرو کې په لاندې بڼه ګټنه اخستي وي.

پڅنوم لکه:. غوا، ډېره، بوی او سابیړی... .؛ مانا نوم لکه:. روغ، رښتیا، پت، هېله، مېړانه، رخه، سخه، عناد، خوښي، بدي، نیکي، اندېښنه، درناوی او سـاډی... .؛ ټولنوم لکه:. ونه، الک، نجلی، هېواد، وګړې، اولس، ټرون او ژمنه... .؛ نوږ نوم لکه:. زر، اوبه او وسپنه... .؛ انګینوم لکه:. درز غرر... .؛ ستاینوم لکه:. تور، سوږ، غټ، ښایسته، کمزوری، رټی، مېړنی، سره، سپینه، او توره... .؛ تاړی نوم لکه: مره وره، زوره وره.

په ورته بڼه سپرې ایزې هم دي لکه سپرې لنډی ایزې ،، سپرې لنډیېزې،، سپرې ټپه ایزې ،، سپرې ټپېزې، سپرې ټیکی ایزې ،، سپرې ټیکیزې،، او سپرې مصری ایزې ،، سپرې مصریزې،، خپل کړه وړه له لنډیو، ټپو، ټیکیو، او مصرو څخه را خپل وي.

سپره ایزه د وی یا ویکیي له پامه ژبه بندېدونکي، وینا بوږبوکي غولی، وینا سبک چورلونکي، ژبی نښتېځونکي، ژبې ګډوونکي لنډی ایزې، ټپه ایزې، ټیکی ایزې او مصری ایزې ته وایې.

او په اصطلاح کې هغه لنډی ایزې، ټپه ایزې، ټیکی ایزې او مصری ایزې دي چې دننه نی سکالو يې داسې رونېږي: چې پېیلن یا پېیلنه په لنډی ایزې، ټپه ایزې، ټیکی ایزې او مصری ایزې کې ډېر ژبه ځرخوونکي غبرګلړونه، ډېر ژبه تاوونکي غبرګې پېښلې او ژبه نښتېځونکي غونډلې، غونډ او ویکیي وندي کوي.

لکه د لیکوال لومړی، دوپیمه، څلورمه سپره لنډی ایزې او درېیمه سپره مصری ایزه:.

## د ایـــزو ښېرنــــچوپېري
(د ایزې ریسرچ پانې)

- **توره**؛ **بانوره**؛ **باتوره**؛ **سوره**؛
- **حـــوره**؛ **مشـکوره**؛ **مــره** وره؛
- زوره **وره** جلی **خوله** نه راکـويــنه

- مېړنی؛ **کلالی**؛ غرغښتی؛
- غرڅنی؛ **ښپیلـنی**؛ لېوالـنی؛
- زخنی **ناکی** جلـــی چېره پیدا **کړمه**

- سابـیړی، **تېتپی**، **ډکډگی**،
- سیوسیوی، **بغـبـغی**، چرلنـډی؛
- ساډی سوډی ملکری **څه** دې و ستايـمه

- رتی د **ستا** خاطر لـه **پاره**؛
- په کاره؛ په خاره؛ په واره؛
- د هر یو **بڼ** بوتـي د **نبـسي** لسپانی یه

## ۱۱. ۱ ړي (ړ):. لومړی ډله لنډی ایزه او څلورمه ډله مصري ایزه : د لیکوال څرګندول چې رونښوي کتنه داسې. لغماني سپره لنډی ایزې او سپره مصري ایزه: د لیکوال لومړی، دوېیمه، څلورمه سپره لنډی ایزې او درېیمه سپره مصري ایزه په لاندې بڼه لوری موږ ته په لاس را کوي لکه:

۱. سپره لنډی ایزې له لنډی څخه رغښت مومي، سپره ټپه ایزې له ټپې څخه، سپره ټیکی ایزې له ټیکی څخه او سپره مصري ایزې له مصري څخه رغښت مومي.

۲. سپره لنډی ایزې د لنډی پایني مسرې کاپي، ورته بڼه، ورته ډول، پرمختګ شوی روغ کوښښ دی؛ سپره ټپه ایزې د ټپې پایني مسرې کاپي، هم بڼه، هم ډول پرمختګ شوی روغ کوښښ دی؛ سپره ټیکی ایزې د ټیکی پایني مسرې کاپي، ورته بڼه، ورته ډول، پرمختګ شوی روغ کوښښ دی او سپره مصري ایزې د مصري پایني مسرې کاپي، ورته بڼه، ورته ډول، پرمختګ شوی روغ کوښښ دی.

۳. پېنځمه کوشني بڼه د سپره ایزو موږ ته په پوخ کې کوي چې درې سره لري.

٤. څومره والی د سپره ایزو موږ ته په پوخ کې کوي چې څلور داني دي او هره یوه یې درې مسرې چې لومړی او دوېیمه مسرې یې نهه څپېزه او درېیمه مسره یې دیارلس څپېزې دي. لومړی سپره ایزه، دوېیمه سپره ایزه او څلورمه سپره ایزه یې سپرې لنډی ایزې دي، د دې له پاره چې د لنډی ځانګړې ځانګېړني، بېلونکي نخښې لري او پاتې درېیمه یې سپره مصري ایزه ده، چې د مصري ځانګړې ځانګېړني او بېلونکي نخښې لري، د دې له پاره مو د سپرې لنډی ایزې په نوم و نوموليې چې د نومړو سپرو ایزو ګڼه په کې ډېره ده، دا تولې سپرې لنډی ایزې او سپره مصري ایزه پېنځه واړه سړو ته منسوبې دي یا د سړو له لورې ویل شوي غونډلې دي یا اړوندې دي.

۵. ځینې زورنې یې لړه زورنه لري، په لومړی سپره لنډی ایزه کې د درې څپېزه ویکیو په پیلنی، پیلنی ( لومړی، لومړی، یا اوله، اوله) څپه زورنه راغلې؛ په دوېیمه سپره لنډی ایزه او درېیمه سپره مصري ایزه کې د درې څپېزه ویکیو په پایني، پایني، ( ورستی، ورستی ) څپه زورنه راغلې؛ ځینې یوه څه زیات،

خو تولیز پایخج یا پاینی زورنه یې ترټولو پیاوړې راغلې او د مخنیو غونډلو بېلابېل اهنګونه د هماغې وروستۍ غونډلې درېيمې مسرې تر سیوري لاندې کمزوري پاتې شوي.

د لومړۍ سپره لنډۍ ایزې پیلنۍ مسره یا لومړۍ مسره کې په تو، با، با او سو زورنه راغلې؛ دوېيمه مسره کې په حو، مش او مره زورنه راغلې؛ درېيمه مسره کې په ره، له او وي زورنه راغلي ده؛ په دوېيمه سپره لنډۍ ایزې پیلنۍ مسره یا لومړۍ مسره کې په نۍ، لۍ او تۍ زورنه راغلې؛ دوېيمه مسره کې په نۍ، نۍ او نۍ زورنه راغلې؛ درېيمه مسره کې په نۍ، کۍ، لۍ او کړه زورنه راغلي ده؛ په درېيمه سپره مصرۍ ایزې پیلنۍ مسره یا لومړۍ مسره کې په ړۍ، پۍ، او ګۍ زورنه راغلې؛ دوېيمه مسره کې په وۍ، غۍ او ډۍ زورنه راغلې؛ درېيمه مسره کې په ډۍ، ډۍ، څه او یه زورنه راغلي ده؛ په څلورمه سپره لنډۍ ایزه پیلنۍ مسره یا لومړۍ مسره کې په ستا او پا زورنه راغلې؛ دوېيمه مسره کې په ره، ره او ره زورنه راغلې، درېيمه مسره کې په بڼ، نې او نۍ زورنه راغلي ده.
په لومړۍ، دوېيمه، څلورمه سپره لنډۍ ایزه او درېيمه سپره مصرۍ ایزه کې په ,, نه، مه او یه ،، کې ترنګټوک په څوړ دی.
خو ټولې مسرې لکه د لنډۍ او مصرۍ پیلنۍ او پاینۍ مسرې په شان ترنګټوک ساتلې نه دی. دا نو یوازې په ساز، اواز کې څېرمه اهنګونه جوتوالی ( برجسته والی) مومي او له ژبني ډګره نور راوځي.

٦. د سپره ایزه پېیلې پېنځګوني رغنده ټوکونه لکه: ژبه، تول، واند (خیال)، اند (فکر) او ولوله ( احساس، عاطفه) په کې شتون لري.

٧. سپره لنډۍ ایزه او سپره مصرۍ ایزه میچه د څپیزه او خجیزه ټولوالې ( Syllabic and Tonic Measurement System ) یوه بنه او لاربنوده مخبېلګه ده. له ژبني پلوه لږ تر لږه درې یا زیاتې غونډلې را اخستې، خو هم یې څپې له ټاکلي شمېر نهه؛ نهه؛ دیارلسو څخه تیرې نه دی کړې او هم یې زورنې په پاینۍ مسره کې له ټاکلي شمېر څلورو څخه تېرې نه دی کړې. خو په ټولو لومړۍ او دوېيمه مسرو کې یې له ټاکلي شمېر څخه وتلې او ورته غونډیز یا ویې څپیزه او خجیزه ټولوالې خپله کړې ده.

بلنوییکي نه لري. دیفتنګونه ,غبرګغږونه، ناتړوییکي، تړوییکي، ستربل، اوستربل، پارنوییکي، بلنوییکي، اندېښني، هیېجاني چغې، چې په دې درې سره سپړه لنډۍ ایزه او سپړه مصرۍ ایزه کې شتون نه لري او په پام کې یې هم نه راولو.

دا چې د لنډۍ او مصرۍ لومړۍ غبرګغونډلي دواړه ملې سره په یوې لارغې تړل شوي یا عطف شوي دي نو یوه تړغبرګغونډله رغوي. اوډوون ( ترتیب) د غونډلې په بڼه نه چې ابښی ( پیل، مبتدا، شروع) وي یا، ابښونی ( پای، خبر) وي. دا مانا ښندي چې پټلیزه ویل کېږي. بویه، اړېنه ده، په چار ده چې په تېنګاري بڼه و ویل شي. لارغه ( پیوستون، مکث، مکثه) او بې لارغې ( بې مکثه، ببلتون)، توسني اړیکه چې په لارغه څرګندېږي- یوه ګډه غونډله جوړوي.

چې په ربښت کې نوموړې مسرې ۳۱ څپې کېږي او په لارغه ( پیوستون، مکث، مکثه) کېږي، بل لورې ته لارغه، وت او کسر درې واړه په کې راغلې، چې کسر ( ماتیدنه، درز، برخه، ډله، فراکسیون ,, په ګوند کې دننه کوچنۍ ډله،، (Fraction, Deficit, Detraction, Depreciation او مطلع pace, Interval, Distance, Break, فاصله ،واټن ) وت (Opening ) (Ravine, Interstice, Chasm, Hiatus ته وایو؛ په لومړۍ مسرې کې هې له با، هې له با او هې له سو سره وت لري او ره له حو سره لارغه ده. په دویمه مسره کې هې له مش، هې له مر او هې له سو سره وت لري او ره له زو سره لارغه ده. په درېیمه مسره کې هې له جه، لې له خو، له له نه، او نه له را سره وت لري او یوه ۳۱ څپه یا نه کې کسر دی.

بویمه، اړېنه ده، په چار ده چې د لنډۍ، ټپه، ټیکۍ او مصرۍ له پاینۍ مسرې سره کسر څرګندېږي، برابر راځي او اوز یا لحن یې هم روغ اوډون مومي.
څلور واړه سپړه ایزې ټولې مسرې سرو ته منسوبې دي.
دا نو داسې نه ورته نه شو ویلی چې پیلنۍ او دوېیمه مسره د سپړه ایزې دوې تکراري لړوالې مسرې یا بندونه دي. چې دواړه یې یوه لړه دي چې له پاینۍ یا ورستۍ یا اوړدې مسرې څخه مخکې تکرارېږي. تر ټولو همدا لړونه او یا پېنبلې د هرې لنډۍ اوږدې مسرې څخه مخکې تکرارېږي (سرباري کېږي).

چې لومړی بند یا رښتنه سپره لنډۍ ایزه درې سره لري. لومړی سر یې د ویکي، ویکي بند، بند دی چې د ره لړ لرونکی او یا ښبله دي او ویکي، ویکي لنډۍ د سر پیلنۍ یا کوشنۍ مسرې دي ۹، ۹ ښپې؛ دوېیمه مسره یې د لنډۍ اوږده مسره ده ۱۳ ښپې، چې نومورې سپره لنډۍ ایزه دوې لارغي لري، ۳۱ ښپې ده. چې په ټوله کې ۴ دانې درې سره سپره لنډۍ ایزې دي (۳۱ * ۴ = ۱۲۴) ښپې کېږي.

د ورډ پوستکالي (New Microsoft Word Documents) له پامه نومورې نیمکۍ مصرۍ، په ۱ چوپړو (Pages) کې ده، ۵۸ ویکي (Words) لري، ۳۰۱ دانې یې وت نه یا پرته له وته د ابېڅو ځای نیونه لري ,, منشور: د رسمي سند ور کونه مستعمراتو ته د حقوقو ور کونه: دربست نیونه ,, د ابېڅو، او نورو،، پرانت.،، (,, Characters ‹‹no Spaces )، ۳۷۸ دانې منشوره یې له وت سره دي (,, Characters ‹‹with Spaces )، ۱۲ پراګرافه (Paragraphs) دي او ۲۵ لینو (lines) کې کښل شوې دي. له لیکي هرپی، لاندنۍ یادونې او پاینۍ یادونې سره، سره ( Footnotes and Endnotes , Include Textbox).

۸. د ایزې رنګونو ښکاروندی یې شپېتلي ( Color model: RGB, Red:۰, Green: ۱۵۳, Blue:۰) دی. د لښتیلیک (جدول) ۱ . ۲ . ۱ پینځه ځلوېښتو پینتو شعرونو او یوه سلو شپېته بېلا بېلو نورو پینتو شعرو رنګونو ښکاروندی (د رنګونو کوډ)، ۱۳۹۵ لېږدیز لمریز کال په ستنه ۳۶ ګڼه دی.

۹. د سپره ایزې پنځه له هغي لنډۍ، ټپې، ټیکی او مصرۍ کېږي چې منځه ( هسته) وي. چې ځانګړې ځانګړنې یې لنډۍ، ټپې، ټیکی او یا مصرۍ ته ورته وي. د سپره ایزې نومورې منځه مورږ په خپل رنګ یې چې د ایزې رنګونو ښکاروندی یې شپېتلي دی، په شپېتلي یې ښکو او چې سرباري، یا ښخباري یا تکراري مسرې یې هم شپېتلي رنګ لري؛ د دې له پاره تر ډېره پورې دا خرک مورږ ته په لاس را کوي چې د سپره ایزې پنځې منځه وي. ګډولي بنه یا اونګ بنه جوړه کړې مسرې هغه رنګ لري چې یا لنډۍ ته منسوبې وي، یا ټپې ته منسوبې وي، یا ټیکی ته منسوبې وي او یا مصرۍ ته منسوبې وي نو د همغو منسوبو شویو رنګ باندې پاتې کېږي؛ له دې څخه یې د پنځ نوم هم اخستل کېږي چې دا سپره ایزه؛ سپره لنډۍ ایزه ده، که سپره ټپه ایزه ده، که سپره ټیکی

ايزه ده او که سپره مصرۍ ايزه ده. له دې سره سم لومړۍ، دوېيمه او څلورمه سپره لنډۍ ايزې دي او درېيمه يې سپره مصرۍ ايزه ده.

۱۰. د سپرې لنډۍ ايزې او سپرې مصرۍ ايزې پېيلن ما ( ليکوال) ټولې په ډولې بڼه يا اونګ بڼه جوړې کړې ( مصنوعي: ديسي، شلخي، ګډول، ترکيبي، يوه ځای کول: فيصله کول: جوړول: صرف نظرکول ,, د جرم د مجازاتو څخه،، : موافقې ته رسېدل. ګډ، د دوو يا ډېرو اجزاوو څخه جوړشوی. انګړ، غولی، احاطه شوی ځاي ، جارګی، چمبړ: مرکب) يا ( Mixdesign, Synthetic or compound ) کښلې دي. هره يوه نوې ګډوله رغولې چې د نوې لنډۍ او مصرۍ سکالو ځانګړنې، نخښې او بېلوالی يې ځانته غوره کړی دی. هره يوه مسره يې په ليکه کړې يا په ليکه برابرول (Alignment) شوي، د سکالو تسلسل (continuity, succession) سره لري، له لنډۍ او مصرۍ يې څرګندېږي چې له نورو لرغونو پښتني وګړني پېيلو څخه روغې ګډوله شوي نه دي.

۱۱. د دې سپره لنډۍ ايزې او سپره مصرۍ ايزې پېيلن د پښتو وګړني سندرو لېوال دی، ځېګ تن دی، د لغمان يوه ښه نيک نومه وګړی دی، چې ډېرې شعرونه يې په وګړني ادب پوښلي دي، د زهن سپره لنډۍ ايزې، سپره مصرۍ ايزې زېږنده يې د ژوند ربښت او پښتونواله يې پښتون پښت ته پربېږدي، په راتلونکې پېر کې لوړ حس د لېوالتيا د خپل پښت په ژونکو کې وندي کوي.
تر ډېره پورې روغه داسې ده چې ما پېيلن خپلې لېوالې ته ويلې وي، په روان نوي پېر کې. لېوال خپلې لېوالې باندې له ترې ورسته شال اچوي، پرې تر پاينې سلګۍ به ودرېږي؛ خپله مېرمنه تر اخېرې سلګۍ نه پربېږدي او خپله ربښتني پښتونواله اړيکه به تر قيامته يوازې او يوازې يوه له بل سره ساتي، د لېوالتيا لوړ حس په کې شتون لري، باور په کې څرګند دی، جنتي رحمت دی ميرمنه، درناوی يې تل په کار دی، نومورې نوې سپره ايزې دي او ما د پښتو ژبې پوهګړ پېيلن په نوي پېر کې بوړولې دي.

۱۲. د دې سپره لنډۍ ايزې او سپره مصرۍ ايزې د زوکړې موده ۱۳۸۵ ده، له روان پېر څخه يې وګړي خوله په خوله مهترلام کې وايي:

کره موده یې یا دوباره سمون یې ۱۰/ ۰۴/ ۲۰۲۲ زیږدي شا او خوا کې مې خوندې کړي.
وخت : (وخت ټاکل، نېټه ایښودل: پرسور برابرول: مهال: دموسیقي شیبه: پروخت، پرټاکلي وخت.). :. ۰۰:۰۱:۰۹:۷۷ ( رپه: ثانیې: دقیقې: ساعته) په وخت کې ویلي ده.
د میني پالنې لوړ حس، د لغمان زرغون چارپیریال او هواویچې د تاثیر پنځې زیږنده ده. د دې له پاره کره بوږوم چې همدا یې د پنځې ( تخلیق) منځې ( هستې) د زوکړې موده ده.

د ژور پام کونکي په بڼه زه د لیک دود نخښې لکه: د سپره لنډۍ ایزې، سپره ټپې ایزې، سپره ټیکۍ ایزې او سپره مصرۍ ایزې په هره مسره کې د چپه پیښ ,, ،: Comma کامه، دغه (،) نښه چې جملې او کلمې سره بېلوي، ویرګول. ،،؛ ندایه ,,!Exclamation: چیغه، کریکه، د تعجب نه ډکه چیغه. که !! شي دوې برابره او که درې !!! شي درې برابره لوړه چیغه ،،؛ پوښتنې نخښه ,, ؟ Question Mark: تپوس نخښه: پلټنه اعتراض نخښه: شك نخښه: پیشنهاد نخښه: پوښتل نخښه، تپوس کول نخښه: شك کول نخښه: مناقشه کول نخښه، غوښتنې نخښه، وړاندیز نخښه. ،،؛ اندره ,, (:) colon: شارحي نخښه، د لویې کولمې یوه برخه. ،،؛ ټکي لرونکې کامه ,, (؛) Semicolon: بېلوونکې نخښه، هغه نخښه چې د جملې فقرې سره جلاکوي. ،،؛ شمېره ,, (#) Number: ګڼه، عدد، ګڼ ( = حساب ) ،،؛ را اخیستنه ,, (,, ،،) Right : left double quotation mark را اخیستنه، نقل، اقتباس. ،،؛ دوې لېندۍ ,, ( ) Superscipt right left parenthesis : د پاسه لیکل، لکه د نامه، ادرس یا نور، اخځوک، معترضه جمله، دوه لیندۍ، قوسونه. ،،؛ د اتصال ,, - hyphen minus: ګډېدو نخښه، یوه ځای کېدو نخښه. ،،؛ ټکې ,, . full stop: پنډول، پرېړول، ډك، بشپړ، مفصل، اکثر حد او اعظمی حد. ،،؛ ریښنکی ,, Tab: کړی، کارت چې د شي بیه یا نوم پر لیکل شوی او پر بکسونو، کالیو یا نورو باندې ځړول کیږی، حساب ( په بانك کی ). ،،؛ سر لیک ( عنوان، سرلیکنه یا سر خط)؛ سر لیکنه (سر لیک یا سر مقاله)؛ سر لیکه (سردړه، سرلوحه، بورډ) او سرمخ ( سر چوپړی یا سر صفحه) په بشپړه تو ګه کارونه اړینه بولم. په خپل لیکې کې کښنم چې د غبرګغونډلو، پارنویکو، د هرې مسرې ښکاره کېدل ځرګند کړي او بېلوالی یې سپینې ته راوباسي.

## ۱۲.  د لنډۍ ایزۍ، ټپه ایزۍ، ټیکی ایزۍ او مصرۍ ایزۍ آړوتی (شرط)

د لنډۍ ایزۍ، ټپه ایزۍ، ټیکی ایزۍ او مصرۍ ایزۍ آړوتي (شرطونو) له پاره زما څېړنه داسې ښودل شوې، یا زما پلټنه داسې په ډاګه شوې یا زده کړه داسې ښايي:

د لنډۍ ایزۍ، ټپه ایزۍ، ټیکی ایزۍ او مصرۍ ایزۍ آړوتي ( شرطي ) غني کول یې په دې بنه کېږي چې خپله یې ګڼلي و ګڼو؛ یادې یې کړو؛ وې لوالو؛ لورا لور؛ کور راکور، و یې نازوو، په خبرو اترو، یادونو، خپرونو، لیکلو، ترانې، سرلیک، سرلیکنه، سرلیکه، سرمخ، په ډېریو ځایونو کې ان په خپل سرووېږدي باندې چې خپل سر ږدو لږ تر لږه لس دانې یې له یادو یادې کړو.

په دې سره موږ کابو موندلی شو چې د خپلي خوږې او منلي ژبې ربښت مو ادا کړی وي. په همدو کې د پښتونوالي او خپلي ژبې ټول کوډونه شتون لري. لکه: درناوی، هڅه، اړې، مرسته، لاسنيوی، غيرت، پګړی، تړه، خپلوي، پالنه، لېوالتيا، ټولواکي، خپلواکي، لوړ د ټاټوبي پالنې حس، بداينه، د ژوند د نيکمرغی شفر، مينه، مېنه، ميرانه، اتلولي، کرکېله، کرکه، ودنه، جغات، پرېکړه، پګړی، جرګه، جګړه، سربښندنه، ولاړه، ننواتي، انشر، وروړولي، سوله ستاړه، سولېز، ربښت، الله پاله، اسلاموالة، تر ټولو خوږمن یې خپله ژبه او په خپله ژبه ودرېدل، ځکه چې ژبه مو په خپله خوله کې ده، اوړې او را اوړې په کې، له همدې ژبې باندې خپل نوموړي خواړه توکي را باستل او ويل خپل پښت مو زرو کلونو ته رسوي. په هغه بنه چې له لرغون پېره څخه موږ ته سينه په سينه او خوله په خوله ځينې له ځنې رارسېدلي دي. زموږ له لوړې مو زوزان خوله په خوله او سينه په سينه خپلو زوزات ته رسوي.

هغه برخې چې تر ټولو ستاسو ډېر په زړه پورې وې، همغه یې له یادو یادې کړئ او خپلې شپېې مو پرې خوښمنې ساتئ.

درنو!؟ د دې پايله ساده برابر وي دا د لنډۍ ایزۍ، ټپه ایزۍ، ټیکی ایزۍ او مصرۍ ایزۍ آړوتي غني کول لکه د باندنيو هېوادونو وګړي چې خپله ژبه درنه ګڼې په خپله یې هم وايي او خپلو زوزان ( وړو، کوشنيانو، زوزات) ته یې هم زده کوي. دا د دې سبب کېږي چې په نوموړو باندې ښوونه او روزنه و کړي؛ غوره تربيه ترې اخلي؛ په علمي برخه، وتېزه برخه او نوي عصري برخه کې یې د زهن چابککېدل، هوښيارېدل او بلا کېدل ډېروالی مومي.

## ۱۳. د لنډۍ ایزي، ټپه ایزې، ټیکۍ ایزې او مصرۍ ایزې آر (اصل)

پښتو ژبې لنډۍ ایزې، ټپه ایزې، ټیکۍ ایزې او مصرۍ ایزې له آره د پښتون او پښتنې له خولې وتلې وینګونه، غږونه او پېیلې دي چې د آریاني قوم یوه څانګه د. دا هغه آریاني پښت دی چې د ځمکې په سر پرې ۷۰۰۰۰۰۰۰ اوویا میلیونه ګڼه ګونه خبرې اترې کوي؛ د نړۍ والو د ژبې له ونې څخه هغه ښاخ دی چې تر ټولو ډېر د ژبو ونو ډډ ته نږدېوالی لري؛ هغه ښاخ دی چې د ګړېدونکې ژوي لاس ورته لومړی رسېږي؛ د ژبو له ډډ څخه ورته لومړی پل خوندې کېږي، چې نورو ژبو ته پرې پورته کېږي، لکه خوندې ژبنی پل پوړ؛ او د ژبو د ونې له څېړې پښتو هغه آریاني ژبې ښاخ دی چې د ژبو ونې ملې، ډنډر او ځمکې څخه لږ واټن لري؛ تر ټولو ژبو د ژبو ونې ملو یا رېښو ته ډېر نږدېوالی لري؛ تر ټولو زوړ ډنډر، ښاخ له ډډ څخه دی چې څانګه یې زړې خو ټینګې او قوي پاڼې لري.

د نړۍ ټولې ۶۵۰۰ ژبې کې چې رېښې یې خړوب کېږي، لومړی د همدې ژبې ښاخ دی؛ د لمر وړانګو روښنایي او اکسیجن یا هواویچه همدې ښاخ رېښو ورکړې ده چې د ویکیو وینګونو رېښې یې تر ډېره سره نږدېوالی لري.

,, د نړۍ پر ټولو ژبو کې لومړی، بډایه او پرمختللې ژبه زموږ د تربورانو ژبه ده چې زموږ څخه ورسته زوکړه شوې؛ ټول کال به یې یوازې سپېڼې وګړې خوړلې زموږ ګاونډۍ ژبه ده چې ځواک یې خپلو خپل ژبو په لاس کې دی؛ هغه د چین اساسي لهجه ده چې (۱،۲۱۳،۰۰۰،۰۰۰) یوه بیلیون او دوې سوه او دیارلس میلونه تنه پرې خبرې کوي.

بله دا چې که انګلسي ژبه (۱،۲۰۰،۰۰۰) یوه میلون دوې سوه زره وییکي ( لغات) لري، عربي او روسي ژبه بیا (۹۰۰،۰۰۰) نهه سوه زره وییکي لري، پښتو ژبه (۶۰۰،۰۰۰) شپږ سوه زره وییکي لري او دري یا فارسي ژبه بیا (۴۰۰،۰۰۰) څلور سوه زره وییکي لري.

دلته په یوه نه یوه نوم داسې کسان شتون لري؛ چې د خپلې ژبې له ویوکو سرا تربګنې لري؛ په کومو چې نه پوهېږي؛ هغه بیا ناګڼلې ګڼې؛ په دې سره به لازمې وي؛ چې پښتو خپل کره وی (لغات) له منځ لاړ شي. ما ایله (۴۰،۰۰۰) وییکي نه دې زده کړې، نو دا د دې مانا نه لري، چې پښتو ژبه دې الله مه کړه نیمګړې وي. خو زه به په نورو پاتې (۵۶۰،۰۰۰) پښتو ویوکو نه پوهیږم.،، (صفی الله، ۱۳۸۸ لیږدی کال، ننه توزي (پیلیزه، سریزه، مخکې وینا، مقدمه )، ۷۲ چوپړی).

د ژبو له رېښو څخه ټول آرياني ويکيي د نورو ژبو ويکيي د ډېرو آرپوهانو (اېټېمولوجېستانو) د ځېړنو له مخې په ټکرويي (تصادفي لغات ) زباده شوي دي.

پښتو ژبه او د نومورې ژبې وګړني پېيلي لنډۍ ایزې، ټپه ایزې، ټيکۍ ایزې او مصرۍ ایزې ډېر په حسن، ډول، ښایست، بډاینه، زېرمه او خوږلنتوب آراسته ده.

په آري ربنت کې پیلنی د بشر پښت ډېرېدنه په ټوله نړۍ کې له بخدي څخه شوی، منځنی یا دوېیم له پنجاب د سیند غاړو هند څخه شوی، او پاینی یا درېیم د چین له اغیور د سیند له غاړو څخه شوی، څومره چې د دوو ژبو تر منځ یا د دوو ژبو او درېیمې ژبې ترمنځ اړیکه او راکړه ورکړه ډېره وي، همغومره د دوی تر منځ په ژباړه کې د کارېدونکي مېټافریز او پارافرېز نسبت ډېر وي.

خو د غونډ د ایکولوژیکي مناسب ځای د بدلون له امله، ځینې پېر دودیزه آرپوهه (Etymology) په یوه او یا بله ژبه کې د شته مانا له پاره د یوه لاربښود په توګه غلتوونکې وي. یوې وی غږ د بلې ژبې په بله او په بله ژبه کې په بله مانا وي.

لکه:. کور وی د پښتو ژبې هستوګنځي ته وایي چې وګړي په کې ژوند ګړ وي، او په دري، تاجکي، فارسي ژبه کې د ړوند مانا ورکوي هغه تن چې سترګې یې نه وي او یا یې سترګې کار نه کوي، په اېنګلېسي کې کور یا Core د هر شي منځ ( هسته )، مرکز، منځ کښل یا منځه یا هسته را اېستلو ته وایي. او په چینایي، روسي، جرمني، فرانسه، پشه يي، بلوچي، ازبېکي، ترکيي، عربي کي د کور وی بېيله، بېبله مانا لري.

